



«دخیبر دره خو لار دتلو راتلو ده په کابل اوپیښور کی افغان یودی »

اهداء

دپښتو نستان

دآزادۍ دلاری دشهید روح ته

«سیلاب» صافی

ACKU

که‌نن ویښ نه‌شوئ پښتنودازادۍ په‌چیغو
بیابم له‌دی خو به شپیلۍ داسرافیل ویښوی
( ۰ )

ACKU

# خیبر

«سیلاب» صافی

دوړی ۹ ورځ

۱۳۴۷

PROPERTY OF ACKU
5662

خیبراز مردان حق بیگانه‌نیست
دردل اوصدهزار افسانه ایست
جاده کم‌دیدم ازاوپیچیده تر
یاوه‌گردد درخم وپیچش نظر
سبزه درداماں کهسارش مجوی
از ضمیرش برنیاید رنگ‌وبوی
سرزمینی کبک اوشاهین مزاج
آهوی اوگیر دازشیران خراج
درفضایش جره بازان تیزچنگ
لرزه برتن‌از نهیب‌شان پلنگ
(علامه اقبال)

# دخیبر لار او سنگر

دخیبر دره . دتیرا خوکی ، دتاتری ګړنګونه دکار وان لار، دپښتنی لښکر سنګر . دجوپی دمه ځا ی‌دمخه ښی او هرکلی پـړا ؤ .

ددریا خان اپریدی او ایمل خان مومند دشوګیرونو او تکبیرونو مورچه . دملتان غازی اوعجب خان‌غازی‌دغورزنګونو ښبه دپښتو پوره کولو او پښتونولی کوراو دزور ګیرا نـو دکمزو ری او تیندك کولی چه دپښتنو دمقاومت او صلاحیت قصی پکښی دتاریخ شرنګیدلی کړی دی ، توره او قلم‌پکی دتاریخی نقش په ترجمانی کښی دتکبیر او قو منـد ی سره ملګری شوی غږ په وینو خړوب شوی خیبر پښتنو ته‌دماضی حال وایی او دقافلی په نغری کښی یی لاسپرغی دښمنا نوته اخطار ور کوی .

دغیرت ولولی دننګ او جنګ حماسی سندری پکښی دملی انقلاب ملی احساس او جذبی انګازی دی دشـلمان او ملا ګوروکندی داورنګ دلښکرو ګور دی پر نګـی‌هم پکښی ستړی او کمزوری شوی . خیبر ئی دخاتمی اعلان کړی دی . دخیبر دزړه خړیکی‌دتاتری‌کړیکی .چه دتوریالودتوری‌شرنګ سره دقلم ملګرتیا دخیبر لار اوسنګر دملی انقلاب‌او زنده باد پښتونستان په نارو کښی دخیبر قصی را بر سیره کـړ ی دی او یوه ګرمه اوتوده هنګامه دکاروان دجرس غږ‌دبیداری او منزل په تپه پښتنی انتظارونه او فکرونه ئی را بیدارکړی دی کاروان په تاریخی ځلو دعقیدت ګلونه کینبودل او ملـی

شاعرانو چه دقام داحساسا تو رسامـان او تر جـمانان دی دخیبر دنقش په عکاسی کښی‌یی‌دقلمونو دژبی څخه‌دحماسی ادب قیمتی مر غلری و دوړیدلی خیبـر پری رنګیـن شو او دتوری او قلم ملګرتیا دخیبر لار او سنګر تاریخ ته معر فـی ګړل خیبر وستایل شو . دادی دغه لوی شورته چه‌داباسیند

چپی سا نیولی شی . دچراټ څوکـه او دکیمور څـوکه ئی

کاروان ته هرکلی وایی پیښور او اشنغر پکښی د سرنوشت

میاشت ګو ری او خیبر دموسمونـو څخه رنګین با جـو نـه

اخلـی ز مو نږ نازك خیال شاعر ځلمی ، حساس او خـو ږ

ژبی ادیب ښاغلی «سیـلاب» صافـی دسوز او ګـداز په

حماسی مسابقه کښی د شاعرانو دقلم دژبی‌نه دوړیدلی‌ادبی

مرغلری دخیبر په نوم راټولی کړی او دیوی رسالی په ډول

یی ترتیب کړی چه د قبائلو دمستقل ریاست دتبلیغا تودلوی

مدیریت څخه دښاغلی «سیلاب» په اهتمام یی دپښتو نستان

دورځی په منا سبت دلو ستونکو مطالعی ته سپا رو اوښاغلی

سیلاب ته دداسی نورو ډیرو خدمتو توفیق غواړو .

«درد مند»

# سریزه

دکوخی گوتې بهدی پری نهږدم ر قیب ته
ا پـر یـد ی یـمه مغـل تـه خیبـر نیسم
( علـی خان)

ددنیا هر قوم او ټولنه دخپل تاریـخ بابونـه اړوی او دخپل فخر شمله پری نیغه ټړی دتاریخ په لمن کی دپیغلـو میرمنو، سپین ږیرو او ځوانانو دمیړانی او همت هر ګا م او هر قدم چه دوطن دننګ اوناموس، ترقۍ اوپرمخ تګ لپاره اوچت شوی وی دقدر په سترګه کتل کیږی او بیرته پاتـی وارثان یی په قبر ګلونه ږ دی او خپله ویاړ نه پری کـو ی همدغه راز هغه تاریخی سنګرونه او مورچی چه دکو م قوم دبرم او ږری سبب شوی وی تل دښځو او نرو په ژبو پـه سندرو کی یادیږی او دویاړ او فخر بدلی پری تو دیږی پـه دی سلسله کی دپښتون‌قوم شاعران هم دخپل تاریخ با بو نه اړوی او په ډیره مینه او ویاړنه دخپل وطن دآزادۍ د لا ری غازیان او بر یالی ځوا نان په مینه مینه ستائی چه ددی‌سره همیشه دڤا تحا تو دبری او فتح دځنځیر په کړۍ کی‌جوخت دهغوی سنګرونه ستا یل شوی او ستا یل کیږی څه چه‌فخر او ویاړ پری شوی او کوی یی د پښتونخوا کاڼی ، بوټـی ، لوړه او ژوره ، دره او غونډۍ ، غاښی اوکنډو، و نه غنه ، ګا ګره او پرخه یی همیشه داستعمار دمقابلی سنګر اومورچه ده او پښتنو زلمو چه کله توره او ډال را پورته‌کړی نو بیایی

دخپل ګران وطن له هری ګټی او پرخی څخه سنګر جوړ کړی او بری ئی نصیب شوی دی زه دلته دنمونی په څیر خپلوګرانو لو ستونکو ته دپښتو نخوا له سنګرونواودویاړنی له محلونو څخه یو محل ، یو کنډو ، یوه دره ، یوه مو رچه ، یوه کړپه ، یوناو ، یوه غاړه،یوه مورګه ، یوه څوکه یوه تړه په ګوته کوم چه دغه سنګر په خیبر یا دیڼی ددغی سنګر دتاریخی عظمت او پخوانی شور او زوګ انګازی لاتر اوسه ددښمن په غوږو کښی کړنګیږی اوله بابا دمه تردی‌دمه‌خوئی دتاریخ پاڼی دننګ او غیرت په سندرو ډکی دی اود ټول پښتون دفخر شمله پری او چته ده بلکه ددی ننګیالی‌خاوری بوټی بوټی او کاڼی کاڼی دپښتون دتیر شجاعت اوهمت شاهد دی دلته به زه تاسو ته ددی مطلب دثبوت لپاره دلرو برو پښتنو شاعرانو هغه ولولی او غور زنګونه وړاندی‌کړم په کوموکی چه زموږ شاعرانو وخت په وخت په مینه مینه دخپل ملی او قو می سنګرستا ینه او یادونه په داسی رنګ کړی چه له هغی څخه هرچاته دا په ډاګه معلو میږی چه پښتانه شاعران تل د خپل تاریخ ، وطن قوم او خاو ری‌سره مینه او اخلاص لری او په پوره اندازه په حقایقو رڼا اچولی شی . زه غواړم چه دغه ملی سنګر چه ما دخیبرپه نوم غو ره کړی څه نا څه تفسیر کړم په ظا هره خو خیبر دهغی دری نوم دی کوم چه دکابل او پیښور په منځ دکاروان لویه لارده او یو شاعر ئی په ښکاره بیان داسی کړ ید ی‌چه:

دخیبر د ره خو لار د تلو را تلـو ده
په کابل او پیښور کی افغان یو د ی

خو ښاغلی کوثر غور یا خیل دخیبر دکلمی دتحلیل او څیړنی په حقله وائی چه .

(خیبر په اصل کی دښې ور یعنی ښی خواته ور دهٖدهٖ خیبر یادیږی ) دی ئی دپیښور په نسبت ښی خواتــه ور او دروازه بولی او زه خو دکلمو په څیړنه او تحلیل کی لاس نلرم خو گمان می دادی چه دا تعبیر به هم بدنه وی چه وواېو خیبر دښه برخخه عبارت وی او دلته خو مو ږته څرګنده ده چه خیبر په شکل او معنی دواړو کی دپښتونخوا په سیموکی دهغو سنګرونو او مر چلو څخه شمیرل‌کیږی چه حقیقتاً ښه بر (اوچت) دی رښتیا چه دخیبرهر کاڼی‌ګولی اوهرشیرغشی یی تیره غشی دی دلته په هرګټ دغلیم سرټکیدلی اوپه هره لویشت لویشت باندی ددښمنانو لښکری په شا تمبول شوی دی دخیبر ددری هره تږه دغلیم په وینوسره ده اوهرګړنګ یی ددښمن لپاره دقبر دکندی نه کم نه دی بلکه ددی مطلب دثبوت لپاره زما دا خیبر چه ما غوره کړیدی او پــد ی کــی دخیبر ددری تفسیر په پوره صراحت بیان شو یدی تاسوته دخیبر دښه او چت والی څهره ښه څرګندولی شی .

زما داوړ وکی غوندی مجموعه چه پــه دی کی دو طــن دمینی او شوق ابا سین په چپو . دننګ او غیرت سمندر په غور زنګو دورور ولی او قامولی عشق په شور او زور روان دی په دی کی دیو والی او بیــداری نغــمی په تود یدو او دپښتو نستان دآزا دی ترانه په غږیدو ده ما دا ادبی‌سوغات دپښتونستان دورځی دشلمی کلیزی لپاره را غونډه کړی او دخیبر په نوم یی دچار سدی ،ټکر . بابړی .قصه خوا نــی .

باتمالی. گړی گال. اکبر پوری ، هاتی خیلو، ګدنی. غازی آباد او دکا هان دغرونو دهغو شهیدانو روح ته وړاندی‌کوم کوموچه دپښتو نستا ن دآزا دی په مینه‌کښی خپل سر ونه قربان کړی او ددی لاری بل مشالونه دی زه دلته شا اوخوا دځوانو او زړو لویو اووړو چه دافغا نستان او پښتونستا ن له ټولو سیمو څخه راغلی‌دخوشالی او خندا ډکـی څـیر ی ګورم او خوشاله یم چه دپښتونستان دورځی تاریخی تلیـن تود دی. لوبغاړی دنندارچیانو لپاره خوندوری لوبی‌اوننداری وړاندی کوی او په چك چکو دغه لوبی نوری هم په جـو ش او خروش سره تودیږی ولی ددی سره جو خت هغه کونډی رنډی هغه بی پلاره ما شو مان او هغه خویندی میندی زمـا ستر ګوته نیغی ولاړی دی دچا چه وروریا ځوی او یا دچا میړه یا پلار دپښتونستان دآزادی په مینه کښی په خپل‌سرقربانی ورکړی او خپله مینه یی په میړانه دنیا ته ښکاره کـړ ی‌ده او ددوی نه پاتی کورنی ټولی دآزادی‌په لوخو پوځوکی‌لا اوس هم داستعمار په پنجوکی ګیری دی‌او خپلو هلوځلو ته دوام ورکوی زه دوی ته زیری ورکوم چه هغه ورځ لری‌نه ده چـه دوی خپل دمنزل پړاو ووهی او دآزادی شربت یی‌نصیب‌شی زما ددی مد عا دثبـوت لپاره دخـیبر په دی مجـمو عه کـی دلرو برو پښتو زلمو شا عرانو د شعر ولولی لوی دلیل دی هیله‌ده‌چه پښتانه‌زلمی‌او پیغلی‌به ددی‌خیبر‌په خوروورو‌ملغلرو کی دحقیقت او معنی اړخ ته پوره پاملرنه ورو ګر زوی او پـه تشو الفاظو به خپل وخت ونه سپځی .

بلکه په لیدلو او لوستلو به یی احساس او فکـر ددی ادبی ځنځیر په شرنګولو دخیبر کاروان ته هرکلی ووایی :

« سیلاب »

ــوــ

# خیبر ته

خیبر دکابل‌او پېښور منځ کې مشهوره تاریخي دره ده ـ خیبر دغه غرونو ته هم ویلی شی‌کوموکی چه دا دره تیره ده.

ما دغه نظم کې دخیبرپه سترګه دغه ټولی غرئیزی‌علاقی ته‌کتلی دی کومه چه دګلګت او چیلاس نه دبـلو چستان ترووریشته حدونوپر ته ده ـ یعنی در وهستان کوهستانـی علاقه ـ

« اجمـل»

# خیبر ته

ستا په سر باندی خیبره
یو جو نګړه زما کور وی

ته زما په لیمه کښی وی
زه دستا په اوږو سور وی

* * *

ستا لحظه لحظه تیریږی دفطرت په تما شوکی
ټو له ورځ دلمر په خیر و شپه دستورو پلو شوکی

* * *

ستاسګڼی ما ښام رنګین‌شی دشفق په لاله زار
سپین سحر دی د بادو نو په وږمو شی نو بهار

* * *

په لیمه کی چه دی‌ننبی د قدرت د رنګینو دی
په ځولی‌کی دی تا جونه ریز مریز د زمانو دی

* * *

دشینکی پړده کی پټه د سرو وینو آینه یی
په دی چپه چو پیائی‌کی د ژوندونو نشانه ئی

* * *

که می ژوندیوه لحظه وی
خوچه پښوکی دی نسکور وی
ستا په تړوکی خیبره
یو جو نګړه زما کوړ وی

داسمان د پاکی لاری　　ده د ستا لپاسه لاره
بو ډیر اړوی تالو نه　　ستا د فخر له د ستاره

* * *

تل دستو رو له د نیا نه　　نور په تا باندی وریږی
دسپوږمۍ پاکی شغلی دی　　په لمنه کی را لویږی

* * *

ته دی شور ته دور یځو　　هسی ځان سره مستیږی
هلته پرق شی په فضاکی　　دلته ته ورا وځلیږی

* * *

سپرلی ډکی کړی ستاغیږی　　دقد رت د ندا رو نه
ژمی سپین په تا انبارکړی　　د جنت د منا رو نه

* * *

ای په ما له هر څه ګرانه
له تا زار می پلارو مورو ی
ستا په ترو کی خیبره !
یو جونګړه زماکورو ی

* * *

تش دکاڼو غر خو نه ئی　　ته غیرت اوشجاعت ئی
دننګ میخ قدرت و هلی　　دپښتون په قومیت ئی

* * *

ستا دسوری لاندی اوسی　　پښتانه لوی لوی خیلونه
ننګ دنر ښځو. کالی دی　　د دوی کسب دی جنګونه

* * *

هغه توری تو ریالی وی　　چه فضا ته غاړه ووزی
په ژوندونی به شانه کړی　　چه میدان ته یوځل ووزی

ACKU

دغه شین زمری ځا من دی    په سینه دی لو بو لی
خدایږوته ددوینیازبینئی    د وی دستا دی نازولی

* * *

چه جو ړ کړی دو ی پـه مینه
نـن دستا ټـنګ وټکور د ی
ستا پـه تـړ و کـی خیبـره !
یو جـونګـړ ه زمـاکـورو ی

* * *

کـه کشمیر کـی را ټـو کیـږ ی
ښـه نـا ز ک نـا ز ک ګـلو نـه
دلـته تـا کـی پـیدا کـیږ ی
دغـیر ت نـه ډ ک مـړ و نـه

* * *

هلته حسن ونزاکت دی    د لته ننګ او جر ءتونه
که هغـه جنت نشا ن دی    ستا نه زار شه جنتونه
که هغه جنت نشا ن د ی    ستا نه زار شه جنتونه

* * *

د پښتو د نا موس ښـی    چه تندی کی ستاځلیږی
ټینګک په زور او زرتختونه    له هیبته ولړ زیږی

* * *

ستا په ګردخـړه فضا کی    دبد بـی د ی دلښکرو
ښـانـی د ی دجـمـد رو    عـلا می د ی د خنجرو

* * *

پـه معنی کی جا م د جم ئـی
ز ما ز ړ کی در تـه زو ر و ی

ستا په تږو کی خیبره !
یو جونګړه زماکورو ی
* * *

کله هلته د ی په سر نا ست
کله د لته د ی په پښو کی
کله ته ز ما نظر کی
کله زه د ستا لیمو کی
* * *

را سپړ د ی د ی را ته یو یو
دغلبیل ځیګر ز خمو نه
په پیر و چه دی خو ږ لی
په سینه د ی ګو ذار و نه
* * *

چیر ته غشی د ی لکشوی
په سینه ما را ا و ښکلی
چیر ته ښخی ېلی تا کی
چه ما رو ر و را ایستلی
* * *

چیر ته ژوبل په نیز ه ئی
چیرته شل در کی ټو مبلی
خپل ر ګو نه می تسمی کړی
ستا ز خمو نه می ګنډ لی
* * *

ستا د خو ږ ګو ګل له لا سه
بل زما په ځیګر او ر وی

ستا په ټړو کې خيبره !
يو جونګړه زماکوروی
* * *

ستا په سترګو مې کتلی
دغه لاری دی ميدانته
دما ضی په آئينه کی
د حملو هغه طوفانته
* * *

د دری له هاغه ګټه
د ميدان تر هاغه سره
سپين پګو نه لوی لستونی
د يو غرنه تر بل غره
* * *

کوزه توری نه او دريږی
بره غشی راوريږی
شور دی چغی دی ناری دی
سيلاب ځی په وړاندی کيږی
* * *

ځمکه خه په وينو سره شوه
چه فضائی او لړله
د دی مړ وله کبله
ميدان واوړيده په بله
* * *

اوريدی می درز دتوری
چه ستا ختی په هرلوری

ستا په ټرو کې خیبره !
یو جونګړه زما کوروی
* * *

په تند کې دی ځلیږی
د ماضی هغه نقشونه
چه اریاو تیرول به
ستا په خوا کې کنډ کونه
* * *

ستا په ریګ کې دا دی دادی
د یونان د سور و پلو نه
ګوره دا پر اته هډ و کی
د محمود د فوځ هډو نه
* * *

ای دی ای دی په دی ټړه
د غوری د وینو داری
راشه دا دی د خلجیانو
نښې پاتې دی په لاری
* * *

دا دی مات پراته سرونه
دمغلو د سورو دی
ابدالیانو دی لیکلی
خپل نومونه په دروی
* * *

ته تاریخ مې د غیرت ئی
خو زما د زړګی زور وی

ستا پـه تږو کـی خیبـره !
یو جـونګـړ ه زمـاکـورو ی
* * *

دپـښتـو د عظـمت کـو ره
ځلنـد ښکا ر ی پـه د نیاکی
د عـر وج و لـو لـی و یـنم
ستـا فـضا کی ستا هـوا کـی
* * *

د ژوندو ن احساس پیـد اشو
ستـــا دتـږ و پـه ځولـی، کی
د شعـــو ر نـا و ی مـسیږ ی
ستـا دغیـږ ی‌پـه ډو لی،کی

پـه زلـمو کـی ډو کیـد لـی
نـو ی و ینـه د سیا لـی، ده
غـر پـــه سمـه ا لـو تـلی
یو و ږ مـــه د قا مو لـی، د ه
* * *

د ا یـشیـا د ز ړ ګـی سره
پـسر لی شو خو شا لیږ ی
د پـښتـو د غـیر ت ګـلـه
مــبا ر کدی شه غـو ړ یـږ ی
* * *

ستـا دد غـی و رځ پـه تمـه
کاش ! خوورځی‌ژوندون‌نوروی
ستا پـه تږو کـی خیبـره !
ستا پـه تږو کـی خیبـره !
یو جـونګـړ ه زمـاکـورو ی

بناغلی (حافظ)

# (دخیبر ننداره)

چه فضا یی دپښتون دعظمتونو ترا نــه ده
سور شفق یی په افق کی چه خونینه افسانه ده
تیره شوی په دی سیمه دخونریزو زما نه ده
چه دغرونوجګ سرونه یی دخودیونښانه ده
په کی پـټه له نـظره دلالـونو خـزانه ده
دو طن مینه په زړو کی دلته هسی رندانه ده
چه زلمو ور باندی ایښی داود مال اوهم دسر دی
دا خیبردی داخیبر دی دا ښا یسته ښکلی خیبردی

* * *

یو پلو ته یی تاتره ده بله خوا دتیر ا غرو نه
چه پامیر یی نندارچی دی په کی شته دی ښه سیلونه
اباسین ورته له ورایه کړی مستی اوغور زنګونه
لا پخوا سپین غرورکړی دخپلوی ورته لاسو نــه
په کی ښه دوستی وروری ده دی له مینی نه ډکی زړونه
غم ښادی کوی شریکه چه اوسیږی چیرته و رونه
په یوغږ راپورته کیږی یویی توغ یویی لښکر دی
دا خیبردی دا خیبر دی دا ښایسته ښکلی خیبردی
دمحمود دلښکر شورئی لاپه زړه کښی دی ساتلی
دلو دی دسپر وګر د یی هـوا سره اغږلـی
دغور یانو لوی شوکت یی هر ی تیږ ی دی کتلی
دشیر شاه دتور و بریښ هم پد ی خو کوځلیدلی

هر ګلی ئی احمد شاه ته په خـوخو ځلـی ویلی
دپښتو پـت یی پا للی په غیرت یی در یـد لـی
چه لویدلی یی پـښو ته په زار یـو سکنـدر دی
دا خیبردی دا خیبر دی دا ښایسته ښکلی خیبردی
کږلیچونه ستغ پیچومی فکر او خیال ورته حیران دی
هسکی څوکی دنګی غاړی دشا هین باتور مکان دی
اومیشته ئی په لمن کښی پښتانه لـوی خا نـدان دی
زمانی ته ئی ور کړی دغیـر ت لـوی امـتحان دی
شاه او خوا اورونه بل دی تروږمی کی چرا غا ن دی
توری تږی توری لږی چیرته شین چیرته بـاران دی
چه ماښام ئی مشک امیزاو عنبر بیزیی هم سحر دی
دا خیبردی دا خیبر دی دا ښا یسته ښکلی خیبر دی
سپنی واوری په سرو نو ګوری ونی تور ځنګلو نه
پښتنی ور لاندی ګرزی توری سترګی سره لا سونه
دپښتو په ګانه ډکی نور ئی نشته سینګا رو نـه
له حیانه ډکی سترګی حیا نـاکـه نظر ونــــه
دعصمت خـادرپه سراو پـاك سپیځلی پـلو و نـه
اوپه سرو لا سو نیو لی دو طن په سر سرو نــه
چه ځوانان په ننګ شی پورته هغه ورځ ورته اختردی
داخیبردی داخیبر دی دا ښا یسته ښکلی خیبردی
دارم ښاپیری دلته راځی سیـل او تما شو لــه
شنو جلګو سپینو چینو اودی ښایسته ښکلی ورشوله
سر نګون دا سمان ستوری ددی سیمی نندا رو له
غور ځـوی ځـان له اسمان نـه دچـا پیغلو لــه
دز مان په زړه کی رشك دی دی مکان او محلو له
دلته هر څوك رسید لی د آزا د ژوند ون هیلو لــه

در حمت پر ښتني دلته ځنډ و هلي خپل وز رد ی
داخیبردی داخیبر دی داښا یسته ښکلی خیبردی
چه هوسۍ ئی له زمریانو ځني اخلی خرا جـو نـه
چه‌مات کړی‌یی دی زر کو د با زانو ورمیږ ونــه
چه ځو زانو ته ئی پسخیږی دجنت دبا غ ګلو نه
چه وږمه‌دخو ږ نسیم ئی رغـوی ویشتلی زړونــه
چه په هر ه ګټه‌ئی لیك دی دتار یخ حکا یتو نـه
پښتانه ور ځني اخلی‌دننګـو نو ا لهـا مـو نــه
مفصل ئی روا یات دی هر سړی پدی خبردی
داخیبردی داخیبر دی داښا یسته ښکلی خیبردی
په کښی مټی شلی شوی دنـړۍ دفــا تحـا نـو
ماتی شوی په کی لنډی وخت په وخت دغلیما نـو
سیلا بونه پری را غلی دخو نر یزو خو نړ یا نـو
خو وار ندی خطا شوی ددی غرونو د بچیا نـــو
در ید لی پیغلی یو ځای تل په ځنګ کی دز لمیا نو
شرنګولی ئی دی توری په مغز و د د ښمنا نــو
رو ګو در تړینه ورك شوی چنګیز دغلته اوتردی
داخیبردی داخیبر دی داښا یسته ښکلی خیبردی
هر شیر غشی ئی‌جوړ غشی دبد خوا سترګو نظرته
هرګړ نګ ئی‌دمر ګ کو می بیګا نه توغ‌اولښکرته
هره پرخه او کړ په‌ئی ده خطر دغلـیم سر تــه
شور د تالند ی بر یښنا ئی بیخی ورته دی محشرته
چه کتلی ئـی چا بـدی یو خسښی دنښتر تــه
نښه شو ی هغه دم دی دا جل تیر ه خجر تــــه

په‌ډیر زور او شور کی را شی اخر دلته درپه دردی
داخیبردی داخیبر دی دابښا یسته ښکلی خیبردی
چه خوږلن کښی ئی لااوس هم‌لوی‌طاقت‌دسوزید وشته
دخو شحال بچی ژوندی دی‌سرکی سترګی‌دلیدوشته
دا یمل جاله آباده پری زلمی دګر زید و شته
ددریا په کورنی کی‌هم شمله د نیغید و شته
روښا نی د یوی رڼاکری شاوخوا په بلید و شته
دمقصود د منزل خوا ته لنډ امید در سیدو شته
چه دداسی ننګیا لیو دجګړی قو ی سنګر دی
داخیبردی داخیبر دی دابښا یسته ښکلی خیبردی
چه سپوږمی دلوړ اسمان یی درویزه دهرمالت کړی
په اسمان به ولګیږی که دا غرونه سراو چت کړی
چه با راندسر دروئی وزر خلاص د حریت کړی
دا فضا ئی ور ته تنګه ار ما نو نه دو سعت کړی
چه ورکوټی یی خوك ږولی نو لویی ته اهانت کړی
خوك به وی چه سترګی پټی له دا هسی حقیقت کړی
چه نسکور ئی پابوسی ته په‌ادب‌داسمان لمر دی
داخیبردی داخیبر دی دابښا یسته ښکلی خیبردی

* * *

ACKU

ښاغلی «حمزه»

# ( دخیبر دره )

دجمرود په دشت کی ناست یم دخیبردری ته گورم
شرابی ور یځی گر زی دسپرلی نماز د یګر دی
دوبه ساه دپلوشو ده چه تیرو وږی بری دی
پښه نیولی گرد په غرونو خه را خورنری نری دی
دهوا پهاوړه باندی خو شبوئی لکه وری دی
دی ښکا لو ته اچولی خاموشیو تیر سری د ی
چه کوم موج دهوا راشی زخمی زړه لره کوری دی
دجمرود په دشت کی ناست یم دخیبردری ته گورم

* * *

دشینکی ښکرراوتی دی تیغونه ئی و یستلی
یا دتیرو فا تحا نو ار ما نونه لږ زید لی
دعدم له اوږده خوبه تر هیدلی بو گنید لی
دو ختو نو په گر زو نو در زید لی ټکید لی
ژ ړید لی خند ید لی لکه شمع ېلید لی
دلوگی غوندی له بز مه د فا نی د نیا وتلی
دجمرود په دشت کی ناست یم دخیبردری ته گورم

* * *

خر خوړی دی گیر چا پیره کندی کندی ویرانی دی
دلته ښخی د ښاغلو ار ما نجن افسانی دی
سرگردانی په فضا کی دشا هانو میخانی د ی
په دی ځای داسمان جا هو پاتی شوی پیمانی دی

دا کر کښې دی که دا دکوم فا تــح دزړه داني دی
دا مر غا ن د هغو شمعو دا پرو نه پرو اني د ی
دجمرود په دشت کې ناست یم دخیبردری ته ګورم
* * *

دومره ډیره خاموشي ده چه په ټول راغه ده لومه
چیرته چون چه مرغی و کړی اندازه یی شی معلومه
ګویا دا زما حواس شوه خارج شوي له مفهومه
هیڅ یی علم راته نه شته دا په دی چه شوه معلومه
په زانګو ددی فضاکی په خوږ خو ب او ده ماشومه
نه خبر ه له خپــل کا ر نه نه خبر ه له خپل نومه
دجمرود په دشت کې ناست یم دخیبردری ته ګورم
* * *

لکی(۱) سررا اوچت کړی لاتر اوسه تماشاکا
دلته سکښه له اکبرخانه(۲) په یرغل راغله دغاکا
دخیبر په د رو ازه کی دتیغو نو مشغــولا کا
ګویا تند ر داجل دی کومه توره چه بریښناکا
داشمشیر داکبرخان دی چه شنه سره به وار خطاکا
دا تکبیر د پښتنو د ی چه دسکښه خودی هواکا
دجمرود په دشت کې ناست یم دخیبردری ته ګورم
* * *

---

۱:ــددری خیبر یوغر چه ددری قطب ته واقع د ی .
۲:ــ دامیردوست محمدخان زوی چه په جمرود یی سکهانو ته شکست ور کړی ؤ .

یونظر په هندوستا ن اوبل نظر یی په ساغر دی
چه په خو د دی‌هم بی‌خوده دغه ویښ‌او ده‌بابردی
دا دخپلی آئینی نه چه حیرا ن دی سکندر دی
په کی عکس دجهان ګوری په خبرکی بی خبردی
دا محمود غزنوی دی چه غازی اودلاور دی
دا سپرلی داحمد شاه ده دپښتون دافق‌لمردی
دجمرود په دشت‌کی‌ناست یم دخیبردری‌ته ګورم

* * *

هم افغان دی پری‌قابض وی‌دامری‌دهندوستان ده
داعزت دپښتنو دی دغه پوزه دافغان ده
که یی سپر هره‌غوندی ده هره‌خوکه یی سنان ده
هریو بوټی یی علم دی هره ګټه یی پاسبان ده
هریو اړخی یی سنګر دی هره ژی یی بس‌کمان‌ده
هر شیر غشی یی‌دی غشی دره خه‌ده چه‌طوفان‌ده
دجمرود په دشت‌کی‌ناست یم دخیبردری‌ته ګورم

* * *

که مری دهندوستان دی دافغان داوښ مهار دی
په ور میردهندو ستان‌کی‌همدغه دښه رګ‌تاردی
دهرچاپه لاس چه کیوزی دکاروان هغه سالاردی
چاچه سروربانده ی داوکړ هغه سر هغه‌سرداردی
چه فرنګ پری‌قبضه وکړه کل‌افغان ترینه په ډار دی
چه یی‌داورته‌مورچه‌کړه‌افغان‌خپل‌کورکی‌حصاردی
دجمرود په دشت‌کی ناست یم دخیبردری‌ته‌ګورم

* * *

ACKU

ښاغلی «خادم»

# ای خیبره!!!

ډیره می کړه ټینګه ژړا نوره ټینګید ی نشی
را چه شی با ښو له او ښکی هسی دریدی نشی
دو مره رفیقا نو می په زړه‌دا غونه ایښی د ی
و یر ه می ده داغ دیار د لاس‌به پکښی‌ځی نشی
سری سکروټی و ګوری‌ء دخولی نه چه بادیږی‌می
سری بلی لمبی د غر ۀپه زړۀکښی‌ځائیدی نشی
سسته دغیرت ستنه شوه ای خا وند ه خیرو کی
دالویه ماڼۍ بی له دی ستنی درید ی نه شی
خپل ورته له یو پلو ، پر دی ورته له بل پلو
واړه سره یو شو ل، پښتانۀ لاره مو ندی نشی
ای خیبره، جګ شه پښتونخوا دمخ له ځمکی نه
پو زه د دوه سترګومنځکښی‌غرونه جوړیدی‌نشی
دا غږ می په غوږ صبا «خادمه »له هاتفه شو
قو م‌به با قی وی ، پښتو نخوامحوه کیدی‌نشی

ښاغلی «خورشید»

# (خیبر)

ای خیبره ! دنا موس او ننګ و طنـه
ستادننګ غرونه دیوپوخ عظمت دلیل‌دی
ستا په خاوره کی یولوی تاریخ مضمر د ی
ستا دا کا ڼـی دکامل غیرت دلیل دی
څرنګ څرنګ‌شاهان‌تیرشول‌په دالاری
ولی ستا عظمت سر ټیټ نکړ هیڅـا تـه
خو نن ستا حالت ښکارین ی بد ل‌شوی
د غیـرت ډیو ه دی تتـه تتـه ښکاری
دعظمت پر چم د ی ښکته ښکته‌ښکاری
نن دستا دباغ ګلونه په رګ رګ کـی
بل د لا سه یو د ز هـرو رود بهیـږی
دپښتون‌په و ینولاس ئی رنګ لتا ړ شو
بیا هم ستا دغرو نو سیوروکی‌اوسیږی

* * *

بس دی ای‌غافل افغا نه ویښ‌شه ویښ شه
و یښید وکښی نن دا ستادملك نجا ت دی
دافغـا ن په غـا ړه و ګـو ره سحـر دی
چه په کی مضمر د ټو ل پښتون حیات دی

(بناغلی خیر خوا)

# خیبر ته

ای‌خیبره دزړه سره قدرتونه دی په تاکښی
دایشیا دفخر نښی عظمتونه د ی‌په تاکښی
دا ستا لوړه غوندی‌څوکه مناره ستا دغیرت ده
ښایسته ښکلی تا ته دی نمونه دشجاعت ده
ستالوی والی ستالوړوالی‌ستاصفت‌اوستاقوت‌دی
ای دننګ غیرت نه جوړه تل معلوم‌ستامتانت دی
صد قه شمه لتانه غیر تونه دی‌په‌تا کښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه دی په تاکښی
دافغان دسترګو توره ډك له ننګ‌او ډکله شوره
دنیا وال واړه خبر دی ای خیبره ستالـه زوره ـ
چه غلیم‌تاته‌وګوری‌سپینه ورځ‌شی‌پری شپه توره
شر مید لی بیر تـه تللی پـه ژړا ژړا تـر کوره
ښی ډ را می ښه یاد ګارو نه دی په تاکښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکښی
هر تا ریـخ پدی ګویا دی ستا غلیم دی شرمیدلی
چه ئی کوږ تا ته کتلـی بیا په وینـو لـمبید لی
زور ید لی ژړ ید لی کړیـد لی بیر ته تلـی
یا په وینو لمبید لی ستا په ښنوکښی‌لغړیدلی
ایری شوی خاوری شوی ډیرسرونه دی‌په‌تاکښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکښی
هوسوریانو دی پریښی تاکښی ډیر ښه یادګارو نه
هم محمود دی په دره باندی تیرکړی خپل فوځونـه

خو شحا ل خان دی رژو لی داغیارو ډیر سرو نه
احمد شاه له هند وستا نه تا ته کړی سلا مـو نه
دافغان داقبال ستوریه تاریخونه د ی په تاکبنی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکبنی
هندوکش-پامیر-سپین غر تل ستاپه تروافتخارکړی
دبابا غر او تور غر دی تش وږ می ته انتظار کـړی
دکابل سپین چه دخواځینی تیرېږ ی ځان سرشارکړی
داسپیڅلی ښکلی نوم دی تل زمونږ د زړوقرار کړی
جار قربان شمه لتانه ډیر خوندونه دی په تاکبنی
دایشیا دفخر تا جـه عظمتونه دی پـه تا کـبنی
ای خیبره !تانه جارشم دا ویده خلـك بـیدار کړه
دژوندون دښمو او بد وله راز ویی خبـر دارکړه
ځانځانی کبنی تبا هی ده دوی له دی ځینی بیزارکړه
چه وروری عزیزولی و ی ته یی روان په هغه لارکړه
دا ژور ژور فکرونه لوړ خیالونه دی په تا کبنی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکبنی
سړی وینی موتود ی کړه په سینه کبنی دځوا نانو
ننګک غیرت په پاریدو کړه همت ورکړه د زمر یا نو
دا مظلوم خلك نور خلاص کړه له پنجو دظا لـما نو
څو به ظلم او ستم کیږ ی په خوارانو بی و ز لانـو
دبی وزلودردیدلو امید و نه د ی په تاکبنی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکبنی
ظالما نو یـو خیبـر ه څـو رو لـی در دو لـی
ز مونږ وینی ئی ز بیښلی ز موږ غو ښی ئی خوړلی
دوی زموږ په سرو باندی تر اسمانه رسید لـی
تل په سل رنګه ظلمونه دوی ز مو نږه په حال کړی

ته داحق باطل جدا کړه دا رازونه دی په تا کښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکښی
له دی‌خپل اوسنی ژوند نه ای خیبره نور بیزا ریو
حق می بل دی قبضه کړی ورته ګورم خو ناچار یو
په داموږ غوندی وطن‌کښی‌هرڅه شته خومونږنهاریو
دظالم له ډیره ظلمه هـر ور ځی سر په دا ر یو
زر بدله کړه دا پاڼه تقد یرونه دی په تـا کښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکښی
بیا په تابه ډیر ویاړ یږو چه بدل مودا ژوندون‌کړی
دغفلت له درانه خوبه چه راجګ دغه پښتون کـړ
چه یی خبر د زمانی او ددی عصر په مضمون کـړ ی
چه نفاق‌له دوی نه ورك کړی‌لوی واړه په‌یوتړون‌کړ
ته زانګو دغیر تو ئی وحد تو نه دی په تا کښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکښی
دایشیا دفخر تاجه عظمتونه د ی په تاکښی

# (خیبر ته )

دستا په سمه او په غر می قسم
هـم ستا په لر او هم په بر میقسم
ورتـه پسخیبړی پسر لی چه مدام
د ستا دښار وپه منـظر می قـسم
هم په لوړ سر د تا تری مـیقسم
هم دتیرا په هـر نشتر مـی قـسم
هـم دپښتو ن په تیره توره قسم
هم په سینه ئی لکه سپـر می قسم
خورم دجمرود په ګړنګو نو قسم
هم دشلما ن په لوی ډبر مـی قسم
هم په با دو نو دښاګی می قسم
هم دبا ړی په رو ګـو در می قـسم
چه کړی په لکه او په تورو پرواز
هم دهغـه شا هین په پر می قـسم
ډك دی په مینه ستا دتو رو تړو
دا پر ید ی په کلك ځیګر می قسم
چه د غیر پل په تا کښی پری نږدمه
لوړه خیبره ستا پـه سر می قـسم

ښاغلی «دردمند»

## (دخیبر دره دحال په ژبه وائی)

غرمی مـه بـولی دیوال دودانی یم
دغلیم دشکست ښبه پخوا نی یـم
دفو لاد وپه‌شان‌کلك یم نه‌غو خیږم
مفتخر همیش په دی پهلوا نی یم
دخیبر نه رسیدلی یم‌آبا سیند ته
پاکه غیږ دادم خان اودر خانی یم
ددښمن غاښ میِ‌مات‌کړی‌دی‌په توره
لوړ محاذ دننگ‌غیرت اودځوانی یم
ننداری دآزادی او ښکار د ستر ګو
زه ساتلی پښتنو په قر با نـی یـم
پښتنو تـه مـی ښښلی افتخار دی
لویه لار د پښتنی ژوند د خا نی یم
چه(درد مند) په‌کی دیدن‌دلیلامو می
دغیرت او ننگ دنیا نن پرو نی‌یـم

بناغلی «دوست»

# خیبره !!:

لکه ستر که دسبا چه په افق کی رابنکار هشی
دمشرق تریوان کړی خیری. توره شپه پاره پاره شی
دتیر وقافلی بار شی .وروپه ورو پسی لیږد یږی
داجهان دسپینو وړا نګو دلفر یبه منظر ه شی
یادژمی سپین خا در چه هسی تول شی له جهانه
پسرلی شی. کائنات تول دسرو ګلو نندار ه شی
قدرت جوړ کا په جهان کښی دسرو ګلوجها نونه
قافلی درنګ اوبوی په غرور غونو کښی دیر ه شی
داسی نوی مستقبل دی په راتلو راتلو کښی وینم
داتیاری اوخزانونه په وتو وتو کښی وینم -
غلی غلی ګونګسی دی ستا په تړو کښی خیبره !
هسی ښکاری په مغلو پښتنو تړلی لام دی
غلا می له منځه لاړه، پاخیږ ما تی زو لنی کړیږ
دایوزیری دو ختو د ی . دا یو رمز دا یام دی
دشپو ور څو تقاضا ده داو ختو نه دا سی وایی
دژوندون برخه یی نشته. څوکچه اوس هم لاغلام دی
زمانه په ګو نګه ژبه څه په غوږ کی را ته وایی
راته ښکاری پښتونو اله - عجیبه غوندی الهام دی
دخو شال سندری اورم ستا په لوړ ولوړو غروکښی
دغیرت وینی څوڅیږی ستا دخا ورو په ذروکښی
ددی نوی ژوند په باب کښی دتقد یر قلم بدل شو
اطمنان ښکاری په زړو کښی های او هوی له انقلا به
داهید کشتی بهرشوی دساحل خواته نږدی شوی
دا هوا جوله طوفا نه په امان شوی له ګر دا بـه



PROPERTY OF ACKU 5652

پس له ډیرو ژړیدلو شوی خندا ته شونډی جو ړی
دسرور تمه پیدا شوه پس له ډیـره اضـطرا بـــه
پښتانه را بیدار یږی دغفلت لـــه بستر و نـــه
دژ وندون در سو نه اخلی ددی عصر له کتا بـــه
پښتانه زلمیان خیبره ! ستا لمن ته را ټو لیږی
خدا ی خبر په مغوا له به بیا څه قیامت جوړیږی
دپښتون سر ور ګو کښی تودی وینی خو ځیدلی
یو احساس دانقلاب دی دفطر ت ورستوهڅو کښی
زلز لی را پورته کیږی دخو شال خټک له خا ورو
لړ زوی وراسته هڅو کی د مغلو په قبر و کښی
لاله زار بهدی په وینو سپیری خا روی کړی‌خیبره!
وختو وړی پسرلی به دی میلمه کړ ی‌په میرو کښی
عاقبت بهدی دتړو نظر ما تـی تـه لـو ګـی شی
ډیراورونه لری زړو کی لکه سوز په سپیلنوکښی
دپښتون دژوند دفتر کی ستا تقدیر به‌کاندی‌نوی
ستا دزوړ عظمت .جلال نه یوتعبیربه‌کاندی نوی

چه پر ی نه و زی‌په ښکته پښتنو پښتو
کړی جیګه تر اسما نه میـړ نوپښتو
کړی سر داسی تا رو نه دملت در با ب
چه هر ه پر ده غږ کړی چه پښتو پښتو
حـمز ه



ACKU

بناغلی «راهی»

# دخیبر غرونه

داو طــن زما و طــن　　زما دستر ګو توردی
دا ز ما دژ پـه تو تـــه　　زیات تر ینه لانوردی
دا دا یمل خان ځمکه　　دا ددریا خـــان پو لـــه
داد بابو خـــان پتی　　دلته زمــا کــو ر دی
دلته کښې خوشحال بابا　　لاو یده په شو ر دی
او رمه فضا کښې ئی　　شرنګ دتوری خورد ی

داوطــن زما وطــن
زما دسترګو توردی

دلتـــه دخیبر غرو نه　　مـــالـــه تسلی را کـــیء
دا هغه خیبردی چه　　نشان زموږ د زور دی
دلته درحمان جونګړی　　دلـــته دملنګ دو مـــه
ترنګ چه درباب راځی　　لوګی غونډی چه خوردی

داوطــن زما وطــن
زما دسترګو توردی

دادی دخو شال وطن　　داد فلسفـــی وطـــــن
داسی معلو میږی چه　　مغل سره پـــه شوردی
داو د شا عـــر خیـــال　　خپلو بم ګا نه یو تـــا ل
خیال یی معجزه شوله　　پردی هسی شمکور دی

داوطــن زما وطــن
زما دسترګو توردی

دا د ملیت نغـمـــی　　دنوی ژخم ځړ یکی دی

ACKU

هر خوکدی مین مین	مینه کـی پیغو ر د ی
داد عا شقی وطـن	داد ز نـد گـی وطـن
داد احمد شاه وطـن	هر بوټی سمسور دی
داوطـن زما وطـن
زما دسترگو توردی
گـلـه و ږ ه د لته ده	سینه کیدعا شقوینه
نشی هضمولی خو ك	څکه گله په شو ر د ی
هرځای کی ژوندون وی	هرځای کی نغمه به هم
دلته وچو پا ڼو کـی	بل رنگ ښکوردی
داوطـن زما وطـن
زما دسترگو توردی
داد بلو چـو و طـن	دا د ښو زلمـو وطـن
لوی چه دسترخوان لری	ارت ئی ځکه شکور دی
داده بلو چی وینـه	داده پښتنه وینـه
یو مو سره تنگ دی	یو مـو سره گـور دی
داوطـن زما وطـن
زما دسترگو توردی

ای وطنه ز یږ وی چه آزا د ی	ځکه تا باندی پښتون فخر کوی
چه وطن یی دا صیلو پښتنو	حفاظت دی دناموس خیبر کوی
غـا زی

بناغلی «رسا»

# (دخیبر له خوا مانبام)

دمغرب په تورو غـرونو لاځلیږی سپینی واوری
دمانبام ګردونه خورشول غلیغلی څا ری لار ی
دمشرق نهرونما تیاره وروپـه ورو زیـا تیږی
داسی ښکاری توری زلفی داشنا پرمخ‌خو ریږی

پهلمن دتورو غرو نو د(خیبر) وادی را ګیـــره
لکه تور دیوان چه کینی له پری نه ګر چـاپیره
داسر خی څنډه دور ځـی را عیانه شوه ځلیږی
یاله غیږی دعا شق نـه شر میلـی اشنا بیلیږی
یادا کا نی د خیبر دی خون لړلی سره مخو نـه
بیرته عکس پریو تلی شین اسمانئی کړ ګلګونه
یادباغ زیړی ګلونه را بیرون په سور کفـن دی
مقتو لا ن یاد غمزودی منـتظر یـا د یـدن دی
یاپراته په سور کفن کی شهیدان دو طن ښکاری
سری‌قطری دو ینونه دی سره‌غمی دعدن ښکاری
یادااور پهشین چمن کی لګید لی دا فغــان دی
دخیبر د سر لپا سه یاد سر و وینو بـا ران دی
چارچا پیره نو ی سا زه رنګینی په دنیاښکا ری
یا پهستر ګوکښی‌نن‌ماله نوی‌نوی سماښکاری

خا مو شی په غلی‌ژبه دا سی ښکاری‌چه‌ګو یا ده
یادا سره مد هم‌سر خی دهچپه‌چپه خو لهئی واده

پټ پنهان په هرذره کې د خیبرخونی دا ستان دی
یو تاریخ ئې په مخ لیك دی یو یادداشت دتیردو ران دی
داسپیره سرلوړی غرونه چه سر سبزه بشه شاداب دی
هم په دو مو نصیبونه ځای په ځای پراته بی تاب دی
داسی ډیر زیری ګر دونه دما بنام دلته تیر یږی
شاپه شار نګین د ورونه ددی غرو نونه هیر یږی
چار چاپیره په دی غرونو ځما خوازه وطنیان ګرځی
ولی نن دویری غلی چه په دوی بند یوان ګر ځی
خوری زلفی توری سترګی که هر ځو دی ددی جینو
ولی رنګ یې سره لاسونه نن نګار دی په سرووینو
داپه داجه دی و طن کی دپښتون وینه بهیږی
په کتو کتو تری زړونه دژمر یانو هم ر پیږی
ناپیدا په دی سماکی دشپونکی شپیلی ژړا کړی
راپیدا می دا په زړه کی دجذ باتو یو دنیا کړی
راو په روددغرونوخواکی یوکاروان روان سفر کړی
دارایاد می په زړګی کی دتیر شوی دور منظر کړی
یوه ورځ به جیری دلته دمحمود کاروان روان و
ګرد غبار دده دفو ځ به رسید لی تر اسمان و
دتکبیر ناری او چتی اور یدلی دی جهان و ی
ددی ملك ذری ذری به له دهشته په لړ زان وی

پدی خاوره دی تیر شوی دلودی غوری فوځو نه
ابدالی احمد راغلی پری به فخر کړی دا غرو نه
داخو نن په دی وطن کښی زیب دتن شی تورسوټونه
خودله شرمه ځوړ ند سر شی ددی غرونو دتګ ځتونه

ACKU

سرنګون سرونه پټ کړی په رورو په تاریکۍ کی
پخوانۍ آزادی ژاړی ژوند تیری پـه غـلامۍ کی
دشفق رڼا تراوسه لاد دوی پـه سر ځـلیـږ ی
غیږ په‌غیږ سره ژړ یږی شاپه شا سره تیر یږی
په‌لمن کی ددی غرونو لمر پټ کړی نو د بدن دی
خونظر په یوه ستر ګه لادده پـه دی وطـن دی
داسی ښکاری‌زوړ کفن‌کی غزنوی دښمن ته‌ګوری
یاخو در دی دد را نو په حسر ت وطن ته ګوری

* * *

* * *

* * *

* * *

* * *

ایمان دی . مـذ هب دی . شـر یعـت دی زمـا
خیبر پـه حقیقت کی حقیقت دی‌زمـا
وچ ځو ز به ئی د طو بـی پـه بـها ور نـکـړم
هر غا ښی ئـی پـټـکــی د فضیلت دی زمـا
«طوفان»

ښاغلی « ساغر »

## (خیبر)

په دی تورو هسکو غرو نو کښی خیبره
ستا دنو م په دی حرفو نو کښی خیبره
ستا د لار په کږ لیچو نو کښی خیبره
ستا په خاورو او ګر دو نو کښی خیبره
دقومونو تقد یرو نه پریشان دی
د تا ریخ ځلند با بو نه ګواهان دی
په دی ځه که در کی نشته دی ګلو نه
یاله ویری درکی تلی نشی‌سندو نه
بیګانه که له سپر لو دی ستا با غونه
بیاهم خو مره دی ښا یسته ستامنظرونه
چه‌ګلونه‌دسپرلی پری‌تول قربان شه
هرښایسته سپرلی‌نثارستاپه‌خزان‌شه
ځکه پاك ئی چه دپاك وطن حصه یی
دپښتو ن د آزا دی ښکلی جوسه یی
دپښتو ن دماضی پا که آینه یی
د مر ی دپښتو نخوا ښکلی د ر ه‌یی
ته سبب دابدالی دلوی حشمت یی
ځه‌که پټ نن په پرده‌کښی دظلمت‌یی
دغیرت چینی په تاکی را خو ټیر ی
دوطن هرتږی ګوټ پری سیرا بیږ ی
ستا له نومه دبا ظل ژبی خو ځیږ ی
په سینه دی چه غیور افغا ن اوسیږی
ته‌خیبره ! دپښتون یی پښتون‌ستادی
دغیور قو م دځوانا نو ژوندون ستادی

ښاغلی «سلیمی»

# (دخیبر یاد )

...چه راپا څئ مېړنو بیا !

دخیبر نه لر او بر ټول یو افغـان د ی
دافغان دپګړۍ ګل ښکلی « بولان» دی
دغه دواړه دافغا ن‌تا ریخ تا ریـخ دی
دزور ګیرو او به شو ی دلته توان دی
هره تېره یی ددېښمنو په وینو سره د ه
دپردو او پښتنو ژونـد دلته ګران د ی
دا فغـا ن‌په ننـګ به تو ره یی تېر له
تېرپښتون‌دلته«ملتان»که «عجب‌خان»دی
دا تا ریـخ و د پرون او پرو ن تېر شو
نن افسوس‌دی‌چه پښتون دلته‌ناتوان‌دی
خیبر هغه ، بولان هغه ، افغا ن هغـه
خودننګ شملی شوی ټیټی دخدای‌شان‌دی
د پر دو آ سـو نـو ګرد پر ی‌غو ړیدلی
څکه‌ګورکښی در دېدلی «خوشحال‌خان»دی
رڼا ورځ په مونږ ه څکه تور ه شپه شوه
چه هېرکړی مو غیرت د« میرونښان »-دی
زمو لو ی به زما نه مو نږه ترکومـه ؟
دپښتون په خونـه ګـډولی تـالان د ی ؟
د«ایمل» په تاتره کښی غور زنګ نشته
په تیرا کښی میرا ت شوی «دریاخان» دی
خو !!!!
را روان دی تېر غیرت دپښـتنو بیا
غږ به وشی‌چه:ــ راپاڅئ مېړنـو بیا

ښاغلی « سحیقی »

## (خیبر ته )

ستا په سر ځما قسم دی دقصونـه ډك خیـبره

دکار وان ددمی ځای یـی دپښتونـه ډك خیبـره
ستا ددنګو خوکو لاندی را ته یا دی افسانی شی
ستا دهری تیږی لاندی رابر سیره زما نی شی
سـکنـدرو کـه اورنـګك وکـــه پرنـګك ؤ
ټولو سرپکی با یللی دپښتون دتوری شرنګك و
تا تره شا هد ی وا یـی سپینه غره پد ی ګـواده
اباسیند وا یـی حا لونه لویه لار دپښتو نخواده
ستا په سر بریښنا دتورو دښمنانوته اخطار دی
قافلی در پکی ویښی غـږ په تاکی د سهار د ی
ته غیرت یی ته پښتویی‌تاپښتون دی ز یږ ولـی
ته عزت دپښتـنـو یی هر غلیم دی پـر ځـو لی
ته لوړ خلـی دمیړانی د روښان دکار نا مویـی
قهر ما ن د پیکا رو نـو دخو شا ل د ترا نـویی
دپښتون ډیوه په تا کـی لا بلیږی تـر سهـا ره
شوګیرونه تکبیرونه ځو ی ته پاتی شی دپلا ره
ستا پیچو می ډك له برمه دلوړ فخرترجمان یـی
پښتونخوادرته‌اعلان‌کړی دمه ځای‌دخپل‌کاروان‌یی
تاکی تـوری . قلمونـه چلـیدلـی دپښتـو دی
ستا په نوم باندی خیبره ما لیکلی په پښتو د ی
(سحیقی خدایار خیل )وایی ته غیرت ته می ایمان یی
تـه می رو ح ته می بد ن یی ته می نوم ته می نشان یی

بناغلی «سیلاب» صافی

# (دخیبر آواز)

پروت چه دغلیم مخی ته سد دسکندر یمه
خدایږو هغه مور گه هغه څوکه دخیبر یمه
لوی شومه وږوکی خونړو انقلابونو کی
ټول عمرمی تیرشو دغلیم سره‌جنگو نوکی
نه‌کړمه چا محوه په مدهشو طوفا نونوکی

نه شول‌څوك کامیاب‌په‌ماپه‌کلکو بمبارونوکی
جوړ چه‌له ننگونو غیرتو نونه دننگ غریمه
خدایږو هغه مورگه هغه څوکه دخیبر یمه
* * *
یوخوا می مومند دی‌اتمانخیل دی‌ترکانړی پراته
بل خوا می و زیر مسید دی خدایږو میړنی‌پراته
غیږکی می شینواری اپریدی لا پخوانی پراته
لر خو یو سفزی زلمی دی بر هم درانی پراته
خو بس چه دختکو اخکزو دزړگی سریمه
خدایږو هغه مورگه هغه څوکه دخیبر یمه
* * *
ډیر صدی تیر ی شوی تیر یږی دارمان سر ه
هر بدخوا ستون‌شوی‌رانه خدایږودخفگان‌سره
هرغلیم می وړی دافسوس رومان دځان سر ه
ډیر می جنگولی سر دد هر پهلوا ن سره
تل چه هرغلیم ته دغم غشی په ځیگریمه
خدایږو هغه مور گه هغه څوکه دخیبر یمه

زه دننګک غیرت نه جوړ شوی قافلی لرم
ور شه تاریخ وګوره رنګینی سلسلی لر م
لمرپه شان ښکاره دهمت ښی سپینی شغلی لرم
دغو غاړو تړو کی بی شماره زلزلی لر م
یاد په ننګک غیرت چه دی جهان کی لرو بریمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه دخیبر یمه
* * *

ډیر می زغلو لی غلیما ن محمد جا ن خان په زور
ځوك می پرزو لی دایمل اودریا خان په زور
چا ته می ښولی خپل عظمت دخوشال خان په زور
ځوك می حیران کړی دغازی فخر افغان په زور
تل چه هر غلیم ته دغم غشی په ځیګر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه دخیبر یمه
* * *

ډیروراته وار په وار اغزی لارکی کرلی دی
چالا دګوندی نفاق تخمونه را شیندلی دی
چاکه ډیر چالونه دتذ ویر راغزولی د ی
دوی په هر کوهی کی خدای پخپله غورزولی دی
زو ر د غلیما نو ته لښکر دماز دیګر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه ځوکه دخیبر یمه
* * *

چا چه په بد نیت سره تش ما پلو کتلی دی
ګاټی یی له ستر ګو نه په هغه دم وتلی دی
ډیرو قوتونو خپل زورونه از میئلی د ی
ډیر و چپا وو نو خپل اسو نه تیز ولی دی

لیك چه داول نه دپښتو ن قوی سنګر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه څوکه دخیبر یمه

* * *

هو زه داو ل نــه د جـګړ و سره اشنـا یمه
مینــه دمیرویس ژوندخوشال‌او احمدشاه‌یمه
لرو بر جها نتــه دا پــه هرډګر ګنبی ښا یمه
نشم قــبلو لــی اسارت دننګ دنیــا یــمه
ز ړه چه درو ښان عمرا خان غازی اکبریمه
خد ایږو هغه مورګه هغه څوکه دخیبر یمه

* * *

تل می په لمن‌کی کاږی بوټی انقلاب غــواړی
شګی‌می دغیږی تل دننګ غیرت‌سیلاب‌غواړی
هره پرخه تږه می د ژوند آزاد شراب غــواړی
هرمرغه می ځان ته ترانه او خپل‌رباب غواړی
ساتی می پردو نه دپښتو ن دزړ ه نظریمه
خد ایږو هغه مورګه هغه څوکه دخیبر یمه
خد ایږو هغه مورګه هغه څوکه دخیبر یمه

* * *

بساغلی « شفیق »

# دا خیبر

یادمی دماضی دسینی زخم ته خنجر شولو
مخکی راته خورچه‌یورنګین غوندی دفترشولو
بیا می په سینه کی قومیت په شور وشرشولو
مل می دتروواو بنکوشبنم دسپین سحرشولو
سترګی داسمان‌هم په دی‌حال‌باندی نمجنی‌شوی
پسکی په سرو او بنکویی رنګینی دلمنی شوی

* * *

تنګ می‌ارمانونه د سینی بندیخانه کـی شو
جوړ یی‌ګونګو سی کړو دوتوپه بهانه کی‌شو
مست لکه موجونه په یوسیند بی‌کرانه‌کی شو
وی چه‌دا څه ژوند دی‌چه زاړه‌په ویرانه‌کی‌شو
سود په تخیل‌نه شی راو وزو حقیقت ته نـور
کور دسکون پاتی دی روان یو حر کت تـه نور

* * *

ګورم چه قومونه نن غونډ یږی‌دغونچی په دود
ستا په‌حال دسترګونه بهیږی می پښتونه‌رود
شرنګ دی‌دهمت‌دتوری‌بیا دښمن‌ته وه‌نبود
داسی احساساتو چه دزړه حرم کړوواړه تود
غږچه په خیبر باندی جذ بی دملیت و کـړ و
لری شه دمنځـه مو نږه عز م دو حد ت وکـړو

* * *

نقش‌می دتوری خاطـرات دی ددفتـرپه مـخ
خاندی می بریښناد دسپینی‌توری‌دسحر په‌مخ

ټيټ شم کله چګ شم لکه موج دسمندر په مخ
نه پريدمه تيکي دننګ ځای کی دخنجر په مخ
روز دی اموخته دحوا دڅوپه طوفان يمه
زه دننګ پهکار کی مړنی دټول جهان يمه

* * *

اينبی می خاو ند دی پاکه خټهکی قوت زما
هر چا او ريد لی هنګا می د ی د غيرت زما
موج وهی فطرت کی احساسات د قوميت زما
پاکه پښتنواله ده قانون د مليت زما
داسی قوت نشته چه کړی محو قومی درد زمونږ
خوچه لا ژوند ی په مخ دځمکی وی يو فرد زمونږ

* * *

مايوځل ښودلی دمټ زورو دی د نيا ته دی
ډيرملك دجهان می تسليم کړی پښتونخواته دی
ياد می دظفر تاريخ ايران او بخارا ته دی
شرنګ زما دتو ری معلوم شوی وهرچاته دی
ما دننګ په ځای کیقربان کړی سرومال دواړه
ژوند دیکه په کا روی دپښتو نځنی اما نغواړه

* * *

زه دآزادی دشمعی اورته پروانه يمه
زده يمه تا ريخ ته خوند وره افسانه يمه
تل دسمندر د زما نی کی در دا نه يمه
موج می جذ بی وهی يو سيند بيکرانه يمه
تيريمه دسرنه پهناموس اوننګ فدا يمه
دا غ د غلا می نه کو مکرکه آزاد پا يمه

وهم وشك کی نه یم زه خاوند دټینګ ایمان یمه
پاکه عقیده لرم په سمه لار روان یمه
دین زما اسلام دی خوسره له دی افغان یمه
نه هندی عرب یم یو پښتون یم مسلمان یمه
زه هغه غازی یم چه څوځله شهید شوی یم
بیا یم پیدا شوی که کوم ځلی فقید شوی یم

* * *

خوشی ګمان مه کړه پښتونخوا تشه بید یا نه ده
دادبی ننګانو بی نا موسو تکیه ګا نه ده
دلته پښتون میشت دی بیله ده نه دبل چانه ده
وایی پښتنوا له جدایی سره روانه ده
مونږ سره تړلی دیو والی په زنځیر یو ټول
یوه دخپلی خاوری په تنظیم اوپه تد بیر یو ټول

* * *

عشق دخپلواکۍ می په سینه کی په هاهاوی تل
پاك می احساسات دی آزا دی می تمناوی تل
خیر دبشر غواړم امنیت می تقاضا وی تل
ما سره چه نښلی بد بختی دهغه چا وی تل
زړه می ډك په مینه دی تا وده تاوده جذبات لرم
پاك سوچه پښتون یمه سپیڅلی احساسات لرم

* * *

وګوره . دی غرو نو ته په ی کی دی وطن زما
دا دقو می مینی دلعلو نو دی مخزن زما
جنګ دآزادۍ له تاود سره دی کفن زما
سیمی له که رامی شی زبون به شی دشمن زما

کور دبی ننګی باندی یو تندرد اسمان یمه
ځکه چه افغان یمه او ځکه چه افغان یمه

داخیبرچه ګوری دپښتون دعظمت نښه ده
غښه علا مه ده دا یشیا په ز ړه کښی ښخه‌ده
هیڅ ورته اتوم دی اراده می هو مره شخه ده
هر څومره که لوی شی لامی‌خوا په غلیم‌یخه ده
زه ثابت قدم دننګ په ځای کی لکه غریمه
عز م پښتنی لر م په هره پیښه بریمه

* * *

پاکی جذبی دز ړه انګړکی دو حد ت لر م
مخکی چرا غونه بل ددین او دملت لرم
زه یم چه مغزوکی ر ڼا یی د حقیقت لر م
اوس‌می‌که‌لاس‌تش دی‌نور څه نشته یوهمت‌لرم
شته ده په تاریخ‌کی دمیړانی افسانه زما
ماکی ټګی نشته «هو»می «هو» او «نه»ده «نه»زما

* * *

نه وی چه شرف‌په‌کی‌نو نه ګورم ژوندون‌ته هیڅ
ډک چه په جذبو نه وی غوږنه‌ږدمه مضمون‌ته هیڅ
ټیټه به می ملانه کړمه‌خدایږوچه‌ګردون ته‌هیڅ
څه چه مشکلات دی واړه عزم دپښتون ته هیڅ
سو زم انقلا ب کی د ختو په بند و بست یمه
ویره راکی نشته دی او نه او ها م پرست یمه

* * *

عشق دآزادی لرم حا می د خپل و طن یمه
دشمن دخپلواکی چه وی د هغه زه دشمن یمه

جنګ له په ناموس می همیشه په سر کفن‌یمه
توره می په لاس ده در معلوم یم چه تورزن‌یمه
زه چه اس می پونده دهمت کړم دمیدا ن په مخ
شخړه دهیبت زما شی پنـړه داسمان پـــه مخ

* * *

ماچه سرو هلی خوخو ځلی د هر چا ســر ه
شته می خا طری دتو ری اوس هم لا دنیا سره
ننګ‌که نارینتوب غواړی‌نوکان یی دی‌زماسره
زه علاقه منــد یمــه دقــو م داعتــلا ء سر ه
فتحه می نصیب ده قــدرت تل‌یمــه برګــړی زه
دی دنیا ته خدای یم دناموس مثال ور کــړی زه

* * *

کورمی د زړه تو ددی‌په تودوجذبو دقام دعشق
زه دقام په مینه کی ختلی یــم په بــام دعشق
مینی دی پښتونه ! نښلولی یم په دام د عشق
غوا ړم په قومی عروج رڼا تیاره مابنام دعشق
ګر زم سر ګردانه لی په لی قو می اختــر پسی
ځا ن سره چه راوړی سعادت هغه سحر پــسی

* * *

زه تکړه شا ګرد یمه ددهــر دمکتــب یمـــه
فکر به په ما کړ ی ملا و ستنی د مذ هب یمه
بیا په اعاده کی دقو مــی رنګین دبد ب یــمه
سا تمه ملی کو لتور مــی ځکه مهذب یــمـــه
زړه کی می جذبی دقام دمینی دی په شورو شــر
ما سر ه اتو م نــشته خو نــه لر مله چا خــطر

* * *

بیا می استعداد کی اړخ بد ل کړو فطرتی قوت
ویښه کړه دخوب نه دکوشش جذ به می بیاقدرت
وی کړغز ونی ځان یی و ښوده تیـار فطر ت
دو مره په ځان پوه یم چه لرم بی انتها طاقت
زه دننګ دپاره حـمله آ نـپـه سکندر کــو م
کار د خپـل ټټر سره دتیږو دسنـګر کــو م

* * *

لوی په انقلا ب کی شوم طو فان دزمانی همیش
کاندی می دژوندپه بیړی رنګارنګ کانی همیش
اور دقومی عشق می وهی زړه کی زبانی همیش
ډکی راسره دناریننتوب وی پیما نــی هــمیش
ما ته دازل نــه ها تف دغــسی یــو څــه ووی
نه شی هضمو ی پښتونــه تا د زمــا نــی رو ی

* * *

ټول عمرا خته یم په ګوندی اوتر بګنیو کــی
ومی سو پو ټـکی دو جود خانــه جنګیو کی
بیا هم محــو نه شو م حوا دثو پــه سیلیو کی
شته می ملغلر ی دهمت د ژوند سیپیــو کی
ما دز ما نی مکتـب نه وا خیستو دننګ دپلــو م
کلک که تر فولاد ووی دو هم ځنځیرو نه شلو م

* * *

نه می شته نصیب کی قلا ری داضطراب ځنی
کله وز ګار شوی یم طــوفان دانقــلا ب ځنی
داټکی زده کــړی ما دد هــرد کتــا ب ځــنی
ویره چه ونه کړی حوا دثــو ددریا ب ځنــی
بله په سینه کی ده د قا م دعشق لمبــه زمــــا
و دی پیژند لــه وه همدا قو می جذ بو نه زمــــا

ښاغلی «صابر» دکوهاټ

## (خیبر)

لــه خیبــر ه تــرا ټکـــه　　څو مره ښکلی سلسلی‌دی
څو مر ه ستــړ ی منز لو نـــه　　څو مره لو یی فا صلی دی

* * *

د غــه واړه مــنــز لو نـــــه　　دتا ریــخ نښی یا دیږ ی
انسا ن زو ړشی او فنــا شی　　یاد گیر نه پاتی کـیـږی

* * *

دغــه ماتـــی ګـــو ډی نــښی　　د قــا مو نـــو افسا نی دی
دهــر ګــا م د تیــږ ی‌لاند ی　　تیــری شوی زما نـــی دی

* * *

دغه لو یــه تیــږ ه‌ګـــو ری　　تیــږ ه‌نه د ه دا خیبر دی
شا او خواکی د د ی تیــږ ی　　هر ښاغلی یو لښکــر دی

* * *

دغه تیږی ته چه ځیر شـــم　　خوشحال‌خان‌می هم‌په‌زړه‌شی
دمــغـو لــو تیــغ و هلــی　　شهید ان می هم په ز ړه‌شی

* * *

دا دلو یو غــر و نو مــځکــه　　دا ز ما د ز ړګی سر دی
ددی کــا ڼــی ملر غــلــر ی　　د دی خا و ره هم‌سره‌زردی

دا زما ښکلی خیبر د ی
دا زما ښکلی خیبر د ی

ACKU

ښاغلی عبدالغفار «صافی»

# (خیبر)

دپښتون دبرم کوره دعظـمت غره خیـبره
اراو برۍپښتونخواکښې دوحدت‌غره‌خیبره
که نور غرو نو کښې ګلان دی لتا جاردی‌ګلستان‌شه
که په نوروکښې سپرلی دی ستا له منی‌دی‌قربان‌شه
که په نوروکښې رود ونه یاچینې ـابشار بهیـږ ی
دغیرت دچینو مهـده لتـا زار آب حـیوا ن شـه
که نشتر ـ خیږی ښوو ند دی‌که با غونه دی‌په‌نورو
ستا دګرد خړی فضا نه صد قه هزار بوستان شه
ای په سرو وینو خړوبه دو مره ښکلی ستا منظردی
چه لتا دسپیلنی شا نی ښکلا دټول جـهان شـــه
ستا وږمه ده وینـوونکی دهمت غره خیبره
هم الهـا م د شجاعت ده هم‌جرئت‌غره خیبره
دغـلیم دما تـو ښبه دبا تـورو افتخا ر یـــی
ای دننګ غیر ت محا ذه ته سنګر د هر ګذار یی
ستا ددنګو دنګو څو کـو هره تـږه دلیـدو د ه
رنګینی یی د سرو وینو جوړ شفق‌یالاله زار یی
څوک‌چه‌تاغیږ‌کښی‌روزلی ټول‌دشنه ز مری بچیان دی
فتح چاتری وړی نـه ده ته دهـرډګـرنظار یـی
ای تـا ریخ دافتخـا ر ه هندا ره د کارنا مو یی
دپښتو ن د ز ړګـی سره د غلیم دسترګوخاریی
ته ثبوت‌یی دپښتو یی دشوکت غره خیبره
هم‌مبده یی دجرئت او شجا عت غره خیبره

پاکه مینه دی خیبره په بند و نو نـه کـمیږی
نن دهر پښتون ږګوګښی دغیرت‌وینی خو ټیږی
دور تیر دغلامۍ شـو زو لـنی په ما تـیدو دی
آزادۍ ناری له قبره دخو شحال راپورته کیږی
احسا سا ت دی پا رید لی ستا تقد یر دبدلیدودی
په والله چه نوری وینی په‌ږګوګښی‌نـه ځا ئیږی
یاپه ځای‌به‌کړودا خپل‌پښتنی‌پت غره‌خیبره
یابه نوم‌دپښتون‌ورك‌کړوداکرت غره‌خیبره

# ( خیبر ته )

خیبره را شه لږ خبر وا خله
خبر زمونږ دخو ږ ځیګرو ا خله
څو مره اشنا په مو نږ ستم کوی
جور ستم په مو نږ هر دم کوی
ته خو ز مونږد زړو ملهم وی کنه
لری کو ونکی د هر غم وی کنه
په څه‌زمونږ نه مرور شو لی ته
چه اوس‌زمونږ نه‌لاس‌پرسرشولی ته
تا وی اشنا لپا ره جنګ وکړ ئ
دده په ښکلی حیا ننګ و کړ ئ
اخر به دا ستا سو په ګا رراشی
څوچه خزا ن لاړ شی بهار را شی
ستا په وینا مو نږه عمل وکړ و
په غلیما نو مو یر غل وکړ و
هغه غلیم نه مو اشنا خلا ص کړ
یتیم و ځکه مو له ځا ن پاس کړ
راشه ګا رو نه دیتیم و ګو ره
په مو نږ ظلمو نه د غلیم و ګوره
زمونږ ه غوښی په کړ یی ور یتو ی
وریتیږی غوښی دی سړی وریتو ی
ګله با را ن دمر دګو و کړ ی
دغه با را ن مو په سینو و کړی

کلـــه په جیل کی شو محنت‌کوو
پـــه سپینو گیـــر و مشقـــت کـــوو
کلـه په نـــه خـــبر ه زو ر و نیسی
را شی له کو ره زمونږ‌شکورونیسی
ځا ن مو ږ کړی مونږه ټول نهرپریږدی
و ږی ز مو نږ تما م ټبر پر یـــږ دی
وینی زمونږ واخلی شراب‌جوړکړی
غوښی زمونږ واخلی‌کباب‌جوړی‌کړی
غوښی زمونږ واخلی‌کباب‌جوړی‌کړی
مړی پـــه گور نشته و یرو نه‌کوی
هسی بی ځا یه فر یا دو نه کـــوی
یتیم په کورکښی زمونږ‌پلار جوړشو
وینی زمونږه خو ری خا مارجو ړشو
کو ر نی، ز مونږ په ده پمـــنه شو لـــه
اور لـــه دکو ر راغلـــه میرمنه شو له
خیبـــر ه ستـــا په شجا عت می قسم
ستا په دا هو مره سر اوچت‌می‌قسم
پل به په ځان ددښمن پر ی نـــږد و
دا یمـــل تو ره به مو نږ کی نږ دو

* * *

## (خیبر)

ای دخیبر لمنو غا ړو تـړ و
ای پـه غیر ت مینـو لـو یو و ړ و
ای د نا مو س د روا یا توکړو
ای د پـښتو ن د و نـو لو یو جـر ړو
ستا سو عظمت ته فلك سر ټیټـوی
در تـه تند ی په ا دب لمر ټیـټو ی
ز نـد ګا نی، لر ه محور دغه دی
او د ژو ندو د جنـتور دغـه د ی
د بلنـــد و دځیـګر سر دغـه د ی
بر د هر چا ځنی خیبر د غــه دی
دی کی شك نشته چه داطوردی زمونږ
سر دز ړ ګـی دنظر نور دی زمونږ
دا دپـښتو ن د پتـنګا نـو وطـن
د غـزا ګـا نو دغـازیا نو و طـن
په حـقیـقت کی د ځوا نـا نو و طن
د ګـټو جا ړو او ځو زا نـو و طن
دی ته ځو لی وه ( سکنـد ر) نیولی
ز نـه (با بـر) وه د خیبر نیـولی
پښی ددښمن په خو ئیدو شی دلــی
خو لی د شه زور و په زا رو شی دلی
زلز لـی سر پـه ر پیـدو شی د لـی
غرو هی ځول تر ی . سیلی، وروشی دلی

مـخ د تاريـخ لره هـندا ره ده دا
او دتهـذيـب د رڼـا لار ه ده دا
دغه غو نـډ ی دی د(در يـا) خوبونـه
ويا ړی‌نن هم پری د (خوشال) اسو نه
دا څو کی نیغـی د (سوری) نو کـو نه
دلتـه مسکيـڼ ی د (ميرويس) ګـلونه
ور ك په دی شا ړو کی وحشت‌دی‌زموږ
پټ په دی کندو کی رفعت د ی ز مونږ
دلته پښتون لره پښتو تـو دی د ی
آ ئينـی دلتـه د خير و تـوری دی
دو نو تيـغـی دزلمـو تـو ری دی
دا تـو ری خا نه ! دبجلو توری دی
چا چه دی کا ږو ته کاواك و کتـل
ګـا ټی د ستر ګو یی نا پا ك ووتل
سپر لنو، پليو پـه دی وس کړ يد ی
ډيرو باور پر ی دبی کس کړی دی
نيت پری سکروټو دیوخس‌کړی دی
ورت پری شاهين لکه‌ګرګس‌کړی‌دی
با ری خيبر کلـه د خولـی ده‌نمړی
نه شوه خم چا و تـه داهسکه غړی
دا فـضا ګا نی (هما يو ن) نـه مـی
دا بلند ی د ( هما . يون )نه منـی
بی دپښتـو ن بل افسو ن نـه منـی
دا يـی قا نو ن د ی چه قا نون‌نه‌منی

سل صدی تیر ی شو ی آزاد یی وینو
بـچ دلیمو نـه دصیا د یـی و ینـو
غانبی مضـبو ط لکه فو لاد ووینئ !
پښتنو پنجـی د هیـوا د و ویـنئ!
دا تـیږ ی سنا سو د ښـیا د و وینئ !
سر پـه مستـی لکه ساه باد و ینئ !
درسته دنیا یـی دیو کك شه لوګی
تو په . بمبـا ر یی له ټوپك شه لوګی
ور د خیبر د زړو چـارو دی بـا ب
لیك په خو نا بو داسرار و کتـا ب
ار غو نی کر ښه دپښتو ن دنصا ب
کا ند ی طو فا نه ! ز ما نی ته خطاب
پټ په چلیا کی یی یوزوږ دی دچـا
هم زما غا ړه کی شه رګ دی د چا

ښاغلی «ظهیر»

## (خیبر دره)

خطری ته هروخت سرووړم ستا په سرکښې زماخپل وطنه !
زمــا د زړه نـــه را چا پیر سنــګــر ګوګل و طــنه !
ستا نه قربان شمه او ځار شمه زه
ستا نه لوګی منصور په دار شمه زه
چه خپل کړی واك لړ په قرارشمه زه
خیرکه په سرکی ستا په زیار شمه زه
بی له تانه و ینم خو ښی د پښتون ګل وطنه!
زما د زړه نه را چا پیر سنګر ګوګل وطنه!

* * *

خپله وینه به زه توی کړم ستا په سرکی تابه ښادکړم
ددښمن لوړی ماڼۍ به حیران ګو ری تابه ښــادکــړ م
دغلیم نه به دی خلاص کړم ځان به غشوته فولادکــړ م
او په ننګ به زه ستا او سم په دنیاکی به دی یادکړم
ته دغلیم دستر ګوخس یی هم اجل وطنه !
زما د زړه نه را چا پیر سنګر ګوګل وطنه!

* * *

تاکی خیــبر غونـدی در ه و ینــمه
زه یی ددښمن په وینو سره وینــمه
دتا تر ی غو ند ی مو رچــه و ینــه
او دغلیــم چا و ده ز هره و یــنمه
ته په ملکونوکی یی توره ،زغره ،شل وطنه!

زما د زړه نه را چا پیر سنگر گوگل‌وطنه!
قربان شه تانه چین ما چین او ختن
او هم ترکی شام او ایران او یــمن
گړی دی پالنه په‌سرووینو هرپښتون دبدن
هری ډگری‌ته دی گوری په نظر دعد ن
ستا په‌چمن هریو پښتون لکه بلبل‌وطنه !
زما د زړه نه را چا پیر سنگر گوگل‌وطنه!
زما د زړه نه را چا پیر سنگر گوگل‌وطنه!

* * *

AOKU

ښاغلی «ظفر»

# (دخیبر ټنډه)

ای ساقی ستا سرو شرابو ته سلام دی
ماته مخ کښې هر یو جام کې زیړمخ قام دی
توری زلفی دی په بل چا سوری وکړ ی
په ماهر ساعت دشپې او دماښام دی
زه منم چه در باب نغمې خوږ ی دی
خو زما قسمت تل ویر ژړا ته پام دی
شینکی خال تل په هغه زړګوټی داغ دی
نا خبر چه دپښتو نله تور انجام دی
دلبران به د هغو خه زړ ګی ویسی
چه د چا زړګی خوړلی غم دقام دی
دخیبر ټنډه شوه خړه خدایه خیر کړی
چه دکوم ظالم له لاسه بی ارام دی
ظفر تل دهغه چا په قسمت لیک دی
چا چه ایښی د پښتو او همت ګام دی

بناغلی «غازی»

# (خیبر)

دخیبر په سر دیره وای
دخیبر په سر دیره وای

* * *

څه او چت بلند بالا یی
د دی خلکو نه جدایی
دهمت د که فضا یی
دد نیا په تما شا یی
تا سره زما سودا وای

* * *

پرخی مخ بهٔ می وینځلی
لکه ګل به دی خندلی
نسیم ور وو رو و ږ میدلی
چپ وراست به خو زیدلی
په زړه نقش می ستاادا وی

* * *

ستا د تیری زمانی
ښی خوږی خوږی نغمی
هر ساعت می او ریدی
مینه لا می زیا تیدی
ور که ورکه دی بلاوای

* * *

چه سبا را و ینیو لی
نری پرخی لمبولی
آزادی پخلا کولی
او نسیم به لو بولی
زما خوله کی ستا ثنا وای

* *

چه دلمر سری یکی سحر
وای خوری په لرو بر
نوا رانی غو ندی خادر
په سر پر وت وی دخیبر
کا ښی بو ټی په ګلهاوای

* * *

رودد او ښکو بهيد لای پری مار غانو اوبه‌ځنبلای
ما از غی را تو لو لای زخمی زړه می پری‌ګنډلای
ستا يو تره می‌تکيا وای

* * *

چه دشپی تيری‌خوری وای نه می خواکی‌څوك‌نزدی‌وای
دخيبر خو ږی نغمی و ای او زما په خوله ګيلی وای
مر ور کله پخلا وای

* * *

هیر زما وی کل جهان ستا دمينی وی داستان
تازه وی د ګل په شان زه عاشق وی‌ته جانان
ښخ‌نظرمی بس‌په تاوای

* * *

لاره ګورم د سو رو د غازيانو د زمرو
شور شر اورمدرا تلو دخيبر په کنارو
تکبير و نه او غو غاوای
دچامخ دی هند وستان ته چانيولی غو ږ افغان ته
څوك يوا زی ګرزی ځان ته زما لاس دی پاس‌اسمان‌ته
يوالله ته می اسره وای
دخيبر په سر ديره وای

* * *

زه قسم خورم په خيبر د تير و ګټو په سر
چه په حال موری کسکر چه مو ګوری در په در
ځار له تانه همه لاوای

* * *

ستا په څوکه می پرواز وای د قدرت سره همرازوای

غو ږ می ایښی ستاپه سازوای ددیخلکونه بی نیا زوای
ستا دحسن تما شا وای
* * *

ما نا ر ی کړی دپښتو ن له ډیر سو زه انـد ر ون
وی دبـل جهـا ن لـتو ن و یمـی هر خـوا چپاون
بره ښکته می تلغا وای
* * *

بیا شه مـا سـر ه پـخـلا چـه یو ځا ی کړ ومشغولا
لـری کړ ه د ز ړ هسو دا یم ضا مـن د هـر بـلا
مستقبل ته په خندا وای
دخیبر په سر دیره وای
* * *


ACKU

## ( دخیبر جواب )

تـل بـه و ی هغـه آ زا د چـه پر ی لګـی ز مـا با د
و ی پـــه‌زړه‌با ندی بـه ښاد یم قـا تـل دا ستبدا د
لا پخلا چه ته پخوا وای

* * *

مـا در کـړی در ته خـو ا ده د ز ړه مینـه می په تاده
هـر ه‌ګـتـه مـی ګـو ا ده ستا د ښمـن ته ولی‌شاده
که پـه لاره دا بـا وای

* * *

تا به ځا ن غـوندی‌محکم‌کړم په غلیم به دی تورتم کړم
تا ته ټیټ به یی سر خم کړ م تا به چا سره زه سم‌کړم
که زه ستا اوته زما وای

* * *

که ته ما بـا ندی میـن یـی زما یا دو کی غمژن یـی
په ار مان دخپـل و طـن یـی یو سړ ی‌شه‌که‌پښتون‌یی
دا جها ن‌به واړه ستاوی

* * *

لـری لـر ی کـړه اغـیـا ر چه را ځی می پـه د یـار
زه لــه د و ی نـه کوم عا ر ز ړه کی پـټ لر ی زنار
ته محرم فقـط زما وا ی

* * *

ز پښتـو نـه ستا ابا یـم ستا پـه مینـه مبتلا یـم
پـه سر ختـی دا عـدا یـم ابتـدا هم انتـها یـم
که دا رازپه تا افشا وای

زه سپـر لـی یمـه مـد ا م          ز ه دمیــو یم ډك جــا م
دی فـلـك مـی هـمـكلا م          دی پــه مـا در ب سلام
ته می ستوری دسباوای

* * *

ډ ك لــه خیر ه یم اکثـر          عـشق او ر مـی د یشرر
چــه یا د یـږ م پـه خیبـر          یم و یــز ا ره له‌هر شر
خیبری‌په برخه ستاوای
دخیبرپه سر دیره وا ی
دخیبرپه سر دیره وا ی

ښاغلی «غازی» بابړ

# خیبره !

په ظاهره خو ولاړ لکه یو غریی
داسمان سره رتبه‌کی برا بر یی
ستا نامی نه عالمو نه به ځا ریږی
په تاریخ کی‌چه مشهوره په خیبریی
محافظ زمونږ دقام او دناموس‌یی
په شاهراه دپښتونخوا لکه دور یی
دغلیم سر به په تا پاره پاره شی
سر دپاسه مو و لاړ لکه سپر یی
د «غوری» غوندی فاتح‌به‌کله راشی
هر کلی ته یی مو دونه منتظریی
هما لــه به کله ستا همسری وکړی
ته په وینو د غازیانو منوریی
ستا خو شبو باندی‌سحر او ماښام پایم
زمونږ ورکوقافلو لره رهبر یی
ستا دلوری بیا ناری دیلغاراو رم
په هوا د آزادۍ کی معطریی
زه دهغه شازلمو لاری ته ګورم
چه دچا د قدم خاوری ته په‌سریی
ستا په سوری لوبید لی‌پښتانه‌دی
ځلیدونکی دشیر خان دلاس‌خنجریی
لویه ورځ دبیلتون لنډه سوه ختمیږی
ولی ژاړی اوله غمه کورو کر یی

په چمن کی دخزان ور ځی ختمیږی
دپسرلی وریځی راغلی که خبر یی
بلبلان د آزادی په ترل چیغیږی
بی خزا نه یو بهار مشك و عنبریی
ننګیالی دا ښدا لی لاری ته ګوری
ته قلم د تقدیرو نو دا کبر یی
ستا پیغام د آزادی جهان کښی خوردی
ته قاتل د هر ظالم او د هر شر یی
یمه باز د سر د رو دی چه پرواز کړم
که هر ځای یمه خوته می په نظر یی
تر قیامته به غازی ستا ثناخوان وی
چه سیال نلری حسین هغه دلبر یی

بناغلی «غمخور»

# (خیبر)

ډیر دی لیونی خیبره ! ستا په سردرو کی
هسکه غرۍ خاندی چه دګل‌هسی‌تیاروکی
لوړ غرونه سیالی ستا دفلك په ستا روکی
لړزی دی غلیم‌تر ی ددی‌پښتون وینم
برخه دی هلال دی په جمال پرته ازل‌نه ده
تاج لر ی په سرته دقدر ت‌په نظاروکښی
جوش دی‌په اثر کی‌زلزلی دی‌په‌قوت‌کښی دی
پورته ګړی موجونه داسمان په‌ترارو کښی
ویری نه تل دروعی سمندرپه خاموشۍ سره
اوری حیدر ی صدا ستا په شرارو کښی
خم شول له تعظیمه دی په وړاندی‌اسمانونه‌تل
تل دی نوبتونه پاس دعرش په مناروکښی
تل‌دی توره و یستی په دښمن پسی‌له میا نه‌ده
تل دی فریا دونه ددښمن په‌هدیرو کښی
تل تللی ابرو دملت تــه راسرکوُنــکی یی
لمر دننګ ناموس یی دفطرت‌په سیاروکښی
نښته دا جوهر په ښکته‌بر. څه چه‌په‌تاکښی دی
در ګوهرلالونه دی بی مثله پــه ایرو کښی
برق هره ګړی‌دی‌هسی شانی پری ځولۍ وهی
ورځ او شپه زیبا دی له دی‌حسنه په‌تیاروکښی
میرانه یی . غیرت‌یی. شجا عت‌جاه وجلال‌یی‌ته
سراسر ژوندون‌یی دپښتون‌په سهاروکښی

کوم هغه‌مشکل‌خه‌چه‌کوم سر دی‌چه‌به‌سر نه شی
الله اکبر سره چه وانه وری نا رو کښی

داسی دی گلو نه بی بها شاخ‌وشجر لری
هیڅ بهار یی نلری مثال په میخرو کښی

سر په سجو داوس‌هم بتکدی واړه‌لیدی‌شی که
وپښتی لږ ځان خه دالفت په انگار وکښی

باغ دپښتون خوا خه دهمه جهان بلبل ته یی
پو رته شو ی له خیا له که‌په مستوچغاروکښی

کله رسیدی بل تخیل هغه مقا م‌ته شی
چیر ته چه لید ی شی دغم نورپه اشارو کښی

* * *

ښاغلی «فولاد»

# خیبره !

ای دخیبر سوی لوی ګټو تنده غر غرو نو
ای دتنا تری دننګ ونام اوځیګره ور غرور
ای داتر ډکو بهادرو شمله ور غر و نـــو
ستا غا ړه دی هسکه وی دی‌په تاځما سلام
ته ځما یی ننګ و نا م
ته ځما یی ننګ و نا م

* * *

ستا دی ډیر او چت مقا م تاکی انقلاب دی
تا کی‌پټ سروردی‌پروت ستااترشراب‌دی
ستاذره ذره چه‌ده . دی‌کی ننګ‌وشاب دی
ستا لیدہ د ګـتو ډیر ما لره ثـواب د ی
ته یی ما پښتو ن لر ه ننګ ونام مدام
د ی په تا ځما ســلا م
د ی په تا ځما ســلا م

* * *

ته ددی‌پښـتو ن یـی شا ن ای د د ی خـیبـــر د ر ی
څـه څـه انقـلا ب لــر ی ستا ټـو لی ذ ر ی ذ ری
ستـــا جـګه شمله د ی کړی ښـکلـی با د نر ی نـری
خو ك دی چه سیا لی و کړی تـــا سر ی او تـــا ســر ی
ستـــا پـہ فـخر پـــا یـمه خو ر م قسم به ستــاپه نام
د ی په تا ځما ســلا م
د ی په تا ځما ســلا م

ستا نه دری خیبری شور تاکی یوژوندون وینم
ستا پەنشان نونودننگ‌نوم پەخوفناکو جزیرو کښی
ټول تاریخ دی ستا نه ډک هسی دی‌سکون وینم
ما ته د حـید رتو رەیا دده رابهـر له نیا م
د ی پە تا ځما سـلا م
د ی پە تا ځما سـلا م

* * *

ته یی دځوا نمر د و شان‌تاکی‌شراری‌پر تی
ستا پە کتهو خاورو کی ښکلی فواری پر تی
ننګ‌کوه غیرت کوه دا قسم ناری پر تـی
دا جـذ بی لمن کی ستا هم دتاتری پر تی
دی دمرتضی یاد ګار ستا دنـګه غړی مقام
د ی پە تا ځما سـلا م
د ی پە تا ځما سـلا م

* * *

ای زما خیبر در ی ستا نه سپیلنی شمـــه
ستا دغا ړی دنګی نه شو ق سرەلوکی‌شمه
ستا دغاړی هار شمه نه چه زەړدی شـمه
زه که بی غیرت شمه پە خه تا ته کتی شمه
دافولاد بچی‌دی‌ستادی له دی‌پښتون‌دی قام
د ی پە تا ځما سـلا م
د ی پە تا ځما سـلا م

بساغلی «قتیل»

# خیبر تـــه

دشا هین او دبازځالی !
د غبنتلـی قو ت کو ره
ستـا د هسکـو تـپر و غیـړ ن کی
قـو تـو نـــه و یده ه شـــو ی
ستـــا پـــه د نـکو د نګو خو کو
عـظمتـو نـــه و یـد ه شـو ی
ستـا سمسو رو سـر د رو کـی
همـتو نـــه و یـــد ه شو ی

* * *

ستـا په سمــه او کږ لیچ کـی
یـــو غبنتلی و لـس پـرو ت د ی
ستا صفـــا پـا کـه لمن کــی
یو سپیـځلـی ولس پر و ت دی
پـــه قو مـو نو د جـهـا ن کـی
یو منلی و لـس پـرو ت د ی
ستا په تږو کنبی خیبره کار وانو نه‌تـالا شوی
ستاله‌کرا ړ وسنګلابنونوقوتونه‌په‌شاشوی
سکندر در کی حیرا ن ؤ
دچنګیز په سر قیامت ؤ

* * *

پـــه ژ ړا در ځـــنی تلــلی
قـو تـو نـــه د جـهـا ن د ی

په لړزه ستا له هیبته
هیبتونه دجهان دی
تسلیم شوی ستا عظمت ته
عظمتونه دجهان دی
* * *

ته دزور او قوت کوربی
ته زانګو د همتونو
ستا له پاکو سر چینونه
سا ه اخستی قوتونو
ستا آزادو سر درو کی
وده کړی غیرتونو
هر یو کاڼی دی خیبره د غلیم په سر بلاده
چه یی بد د رته کتلی دهغو خو نه تالا ده
تا دریا غوندی پښتون دی
خپله غیږه کښې روزلی
* * *

خوشال خان دا ستا بچی ؤ
دافغان په ننګ او چت شو
میا روښان دی زمری و
د غلیم په سر قیامت شو
ایمل خان دی لوی قوت ؤ
چه دښمن ته لوی هیبت شو
* * *

باور ستا دی ستا له غیږی
به عظیم قوت اوچت شی

تیـر یا دو نــه به تا زه‌کړ ی
بیـا به لـو ی درس د عبرت شی
دا ویـد ه قو ت به و یښ شــی
په دښمن به جــو ړهیبت شــی
خپلې کلې به په شا کړی استعمار ستا له لمنو
جوړ به لو ی پښتو نستا نشی‌په قوت دغیرتمنو
دو ختـونو تقـا ضا د ه
دا پیمان‌او دا تړون دی
* * *
وخت روا ن د ی‌نــه را ګر زی
خـو کا ر ونــه تکرا ریـږ ی
بیـا به تـیر عـظمت پیـدا کړی
مـتـو ر د ی بیـد ا ر یـږ ی
ستـا پــه د نـګو د نګو خو کو
بــه ملـی بیر غ ر پـیږ ی
شپـی او ښتـــی سبا و ون د ی
* * *
د ا تیــا ری به بیــا ر ڼـا شی
پــه د ی ډ یـر و بـی لار یـو
کـی به لا ره را پـیـد ا شـی
دپښتـو ن عز م پـښتو ن د ی
خپـل‌غیر ت به یـی پیـشوا شی
دغه توری تو ری شپی به همیشه نـه وی خیبره
دغـه هیله دا ا مید شی ستا لـه هر یوه سپر ه
دپښتون ګـور به و دان شی
جو ړ به دا پښتونستان شی
کابل سرطان ۴۷

## (خیبر ته)

خیبره زیری می در باندی ګوری
چه دزحمت مو ده په مونږ تیره شوه
اوس به سحر وی ځلیدونکی سحر
اوس ایله شپه زمونږ په بندګیره شوه
ستا دنو خیزه حافظی نه ایله
زړه قصه د بی وسی هیره شوه
اوس به دی کانوته چمن پسخوو
اوس به لمن ته ستا چمن پسخوو
ستا په سینه مدام شاهان تلی دی
اوس دی تلی دفرزندانو ننګلکړه
غیږانګ خیبره! تاتیمورلید لی
توره په لاس دافغانانو ننګلکړه
تا دبابر بربریت کتلی
ببرسرونه د خوا رانوننګلکړه
داسی زامن درله وطن زیږن وی
غیږ کی دی ساز دانقلاب غږوی
دنګه غږی به دی اوس دنګه وی تل
په دانګو دانګویو منز لته روان
یا به اسمان ستا په لمن را ټیټ کړو
یا به دی جګ کړو له اسمانه نشان
یا به پری خپل ارمانی ځان تالاکړو
یا به دنیا غواړی له مونږه امان
دایمل توره پاریدلی وینم
دخوشحال وینه قارید لی وینم
خیبره دلته شنه زمریان اوسیږی
خبریی دلته باتوران اوسیږی

ښاغلی «ګرم»

# په خیبر کوی قسم

پتنګک دبلی شمعی په سفر کو ی قسم
پښتون چه راولاړ شی په خیبرکوی قسم
زور ګیر شی حیران پاتی تا تره شیورتهاور
توپونه او وسلی او پکی ستړی یی شی زور
ملتا ن او عجب خان چه په سنګرکویقسم
پښتون چه راولاړشیپه خیبر کو یقسم
الهام او کرامت شته د خیبرپه لوړو غروکښی
دالله اکبر غږوی روا نپه تکبیرو کښی
بریښنا دلوړو خوکو په خنجر کوی قسم
با ړه د شهید ا نو په پر هر کوی قسم
کاروان دپښتونخوا پکی پړاو لر ی دشپی
دښمن پکی سلګی و هی کړ او لریدشپی
غیرت داپریدو په پیښور کوی قسم
شفقدسبا ون چه په خیبرکوی قسم
دهری تیږی لاندی دا ستا نو نه دپښتو
خیبر ه ستا په غیږکی کار وانونه دپښتو
څپی دا با سیند ستا په لوړسرکوی قسم
پښتو نچه را ولاړ شی په خیبرکویقسم
چه جوړ پښتو نستان شی پسرلی بهپه تا شی
کا بل او پیښو ر کښی هرکلیبه په تا شی
دا ګرم او پښتنی ستا په منظرکوی قسم
با بو نه د تا ریخ ستا په ځیګرکویقسم

# خیبــر ته

خیبره زه یــوه پــو ښتنــه کــو م
در ســر ه غلی پیــژ نــد نه کــو م
ماضی تیــر شو ی خــو دحا ل په امید
ستــا د د ری د ری ګیــد نه کــو م
دتا ریــخ پا ڼــو کی دی خیږ م یو څه
دا ستــا د تیر حا ل یا دو نــه کو م
پر یده چه‌ستاپه‌غیږ کی ځان ستړی‌کړم
ستـــا د لـــمنو پلـــټنــه کـــو م
شپنـــو خو ډ یر را ته ستا یلی یی‌ته
چـــه زه د ی د غــو مره‌مننه‌کوم
چـــه را ښکـــا ره ستا د عظمت‌ټکی‌شی
بس یــو ه لنـــډ ه شا نخیږ نه‌کوم
دا ستا په باب یو څه لیکـــل غواړم
یــو حقیقــت خر ګــندو ل غــوا ړم
خیـــبر ه تـــا خـــو قـــو تو نـــه روزل
دننګ په نو م د ی ولسونه روزل
دننـــګ په نو م یـــی‌چه خند نه‌کړ له
تا خـــو پا خـــه ذ هنیتـــو نه رو زل
چـــه سره لمبه به دغلیم په سرشول
تا خو په د ی شا ن غیر تو نه‌روزل
چه په لـــښکر و یی پـــروا څه نه وه
تا خو ښنـــد نی تـــه سرونه رو زل

ولی نو اوس داسی سپیر ه ښکاری
تا خو خو ږه غیږ کی ګلونه رو زل
را تــه و وا یــه داسی شا ړ ولـی شوی
لــه خنډ و خا ر ځـنی ډ ك ګاړولی شوی
خیبره تـه د خو شا ل خان زا نـګو یی
هـم دصوفی عبدالر حمن زا نـګو یی
تا هو تکیـا ن او درا نیـا ن سا تلی
داحمد شاه او میرویس‌خان‌زانګویی
د پـښتنـو نیـګو نـه تـا رو زلی
د دریا خان او میا رو ښان زانګویی
چه توره ګیره یی په جیل‌سپینه شوه
خیبـره ته د صمد خا ن زا نـګویی
پښتنی ننګ داستا په څوکوکی د ی
تـه دتما م پښتو نـستا نزانګو یی
نو و لـی داسی پر یشا ن ښکاری
پـه پسر لی کی هم خزا ن ښکا ری
اخر به تا کی ز لز لی جـو ړی شی
تا کی د و ینو به شیلـی جو ړی‌شی
دا دغر ض خا ونـد به نشی کا میاب
د پښتنـو بـه غلغلـی جو ړی‌شی
بیـا به شپـا نه در تـه ر می را ولی
ستـا په لمن کی به میلـی‌جوړی‌شی
ملـی اختر به دپښتو ن ولس کړ ی
اخـر به دغـه و سیلـی جو ړی‌شی

ستا دلمنی د ښکلا لپاره
اخر به دغسی وسلی جوړی شی
ستا د شوکت او دبدبی په امید
په غلیما نو به نخری جوړی شی
زه «متین» زړه باندی داغونه لرم
خیبره تا ته امیدونه لرم

چه ولاړ یمه نوغریم
زه پښتون یمه زړور یم
زه مغل و ته خیبریم
زه غاصب وته لښکریم

ایوب صابر

* * *

(ملیار) دننګرهار دطب دپوهنځی
محصل
# ( ښکلی خیبر )

دا دخړو تړو پروټ غر۔ چه له ننګ نه یی هسك سردی
دا ښا یسته ښکلی خیبر دی۔ داښایسته ښکلی خیبردی

* * *

که کوم باغ وی که ګلشن وی۔ رنګینی وی طراوت وی
دخړپړ غر ځنی ځار شه۔ چه سر لوړی باعظمت وی
باغ ګلشن په سپرلی، منی۔ ګله زیړ کله زرغو ن وی
خو خیبر به مستغنی وی ۔ ټینګ او بااستقامت وی
چه پښتون ته جوړ (سویس) دی۔ طبیعی ښکلی منظردی
دا ښا یسته ښکلی خیبر دی۔ داښایسته ښکلی خیبردی
دزمرو ځاله یی بولی ۔ هم پښتون ته روزنتو ن دی
د غیر ت همت معلم د ی ۔ اور هبر دپیوستون دی
دسبق موضوع (ثبات) ده ۔ دثبات درسونه ښئی
استعمار استبداد غند ی۔ دایی درس دایی مضمون دی
دتیری خوکی په سر یی ۔ استعمار ځیګر پر هر دی
دا ښا یسته ښکلی خیبر دی۔ داښایسته ښکلی خیبردی

* * *

استحکام ددی سر سخت غر۔ ډیرپه ښه ډول ښکاریږی
اوبه ځکه تری ویریږی ۔نه اودریږی تری تو ئیږ ی
استعمار او استثمار تری۔ په مراد ندی و تلــی
چه دلر بر وحد ت غوا ړی۔ استعمار یی نه خوښیږی

چه دلر بر پښتو نخوا پــه ـ ارتبــاطکــښې موثر دی
دا ښا یستــه ښکلی‌خیبر دی‌ـ دا‌ښایسته‌ښکلی‌خیبردی
* * *
دخیبــراوهندوکش غر ـ پخپل منځ‌کښې زمزمه‌کړی
یوله بله دو حدت اوـ دیووالی خـه اسره کــړ ی
که خـلاف ددی اړیکی ـ انقطا ع ته‌څوك شی‌وړاندی
چاره نشته خو دپه وینو‌ـ به‌خیبرلمنه سر ه کړ ی
دا چــه هر ډ ول ګذا ر تــه ـ سم ولاړدی‌سینه‌سپردی
دا ښا یستــه ښکلی‌خیبر دی‌ـ دا‌ښایسته‌ښکلی‌خیبردی
* * *
استعمار استعمار چیان دی‌ـ استبدادکه استثماردی
ښه پوهیږی‌چه نورورسته‌نه چلیږی‌خوار وزار دی
(دخیبر نسیم)اوس‌وخت‌کښې‌ـدهرفردپه غوږکښی‌وایی
چه: ( ودغوبلا ګانوـ ته ملی وحدت‌پــه کــار دی )
چه وحد ت شعو ر یــی نن ورځ‌ـ ژوند ی‌کړی‌با اثردی
دا ښا یستــه ښکلی‌خیبر دی‌ـ دا‌ښایسته‌ښکلی‌خیبردی
پدی پوه شه ای‌خیبــره !دبچو ژوند به دی سم شی
(ستانسیم) ورته ویلی ـپه (وحدت‌به‌یی‌جوړرقم‌شی)
په تازیری(ملیار)وایی‌ـچه پښتون‌اوس ښه‌ځیرشوی
اوس نووایی چه : اختر دی‌ـجا نشین دمحر م شی
چه محرم ته‌ یی اختر شته ـ هم یی شپی لره سحر دی
دا ښا یستــه ښکلی‌خیبر دی‌ـ دا‌ښایسته‌ښکلی‌خیبردی
دا ښا یستــه ښکلی‌خیبر دی‌ـ دا‌ښایسته‌ښکلی‌خیبردی
د۱۳٤۷لمریزکال دزمری دمیاشتی‌اوومه
خــو شحــا ل خــټك و اټ ـــکابل

# خیبر وائی

ای دو خـت زلمیه ! لږ و ختو نو ته نظر و کړه
لاندی په دیځمکه داسمان په سپوږ مۍ لمروکړه
وخت ته دهمت کمنـدوروا چوه حصار نـه د ی
مخه یی را بنـد ه کړ ه ز لمیـه ستا دډار نه‌دی
پریوتل تا جونه ظا لما نپه چله چـله دی
نن چه وایی زه یم سبـا تللـی له محله دی

* * *

کله تـینګیدی شی انقلاب چه په ځوا نیۍ کښی دی
کیږی تعمیرو نه لا تکمیـل په روانیۍ کښی دی
اوس دبنیاد مو د ژ وند ونکال نـوی شوی دی
صبـر چه غصه شو د مجبـور فال نوی شو ی دی
نه ګوری په یوځل انقلاب چه مو سیدلی‌دی
منډه ی وهی دوو هی لا کلـه و درید لی دی

* * *

پورته شه یو ځلـی د ظالم پـه خـونه هـله کـړه
مړ کړه د ظا لـم چراغ ډ یـوه داو لس بـله کـړه
تا ته خو دکو نډ ویتـیمانو ستر ګـی و تـی دی
ستا د ز ړه دنیا پو ری خو ډیر ی اسری‌نښتی‌دی
لری له دنیا هغه نظام کړه چه نـظام‌نه‌دی
لری‌کړه‌له ملکه چه‌کوم‌ستاپه‌شان امام‌نه‌دی

* * *

وخت دهغه خلکو سره مل وی چه تل زغـل کـوی
زړ ه کی ارا دی لری تکلیـف کی هم خند ل کـوی

څوك دی ورك په فضاګانو　　واړه ګډه په ګډاګانو
د چا پوله ده پېژندی　　غم یی کړی د بلاګانو
دد ر نګونو ما لکان دی　　تا ته بس په دعاګانو
ای زما خپله وطنه !
ما ته ګرانه له هرڅه نه

* * *

څوك په ژوند وپه ګانړودی　　څوك مین دی په ماڼودی
څوك دی جار قربان له تا نه　　منت بار دی درانو دی
څوویرین مویلی نه شم　　د غه واړه دګانړودی

* * *

دا وختیځی سلسلی دی　　دا روانی قافلی دی
دا تو تیان دشنو بڼو نو　　ترهغی دی چه مېوی دی
دا دپېرو مجنونان دی　　دغه سواری د غرمی دی
ای زما خپله وطنه !
ما ته ګرانه له هرڅه نه

* * *

هیڅ په کار به دی را نه شی　　د خبرو دی شلغشی
دوی په ځان باندی مین دی　　هیڅ ز هیر به په تانه شی
خدای دی نکړی خو دی وکړی　　چه معلومه در ته بنه شی

* * *

او که یی نه منی نورا شه　　لېږ زما سره سلا شه
دغه ټول به در معلوم شی　　لږ خو ګرځنده بلا شه
تماشا وکړه دوینی　　جنګیا لی غوندی فضاشنه
ای زما خپله وطنه !
ما ته ګرانه له هرڅه نه

بیا به نه دا ځګیر ورو ی بیا به نه دا بختور وی
بیا به نه دا سر داران و ی بیا به نه دا سو داګر وی
بیاکه و ی نو و ی به دوی کی بس هغه سړ ی به نرو ی

* * *

چه به یی سر پټول زده وی یا به یی تیښته کول زده وی
یابه لوټ او ماره ښه کړی یا به یی ور ما تو ل زده وی
یا چه هر څه به را نغا ړ ی اخستل خر څو ل زده وی
ای زما خپله وطنه !
ما ته ګرانه له هرڅه نه

* * *

دا په تا باند ی مین خلک دا مخرو نه ی مخ ځلن خلک
یا به تا لره نا سو ر شی دا نا ز ك او ګلبد ن خلك
غټه تو ره به کړی تیښته دا په تخت با ند ی مین خلك

* * *

دا به زه یم چه به ستایم په هرحال کښی به دی ستایم
په سنګر کښی به دی پروت یم سرلښکر به دی له ور ایم
له دښمن به دی چا پېر یم هغه و خت به یو بلا یم
ای زما خپله وطنه !
ما ته ګرانه له هرڅه نه

* * *

که دی شو ړ ه ده که شا ړه د ه آ با ده که ویجا ړ ه
ده لمنه د خیبر د ی دا یلم که لکه غا ړه
ما لپا ر ه یی جنت د ی دغه لار ی کوڅی واړه

ستا په ورا نه کی‌سمی دی — که زیاتی دی‌که کمی‌دی
هر یو ګام دی د علم دی — هر یو ګام دی دد می دی
خړه‌خاوره به دی ستایم — هر یو ګټکی دی‌غمی دی

ای زما خپله وطنه !
ما ته ګرانه له هرڅه نه

ACKU

هر غلــیم شو په کی ستـړی          تو ر یـا لو په زور وهلی
مخ یی تو ر کو رتـه شړلـی          د شکست جام یی‌نو شلی

دا ملـی بیر غ چه رپی
آزاد ژ وند پښتنو د ی
دا و طـن د پښتنو د ی
دا و طـن د پښتنو د ی

## خیبـر

زه خیبر یـم ز ه‌خیبر دفتـح لمر یم
د تیر شـو ننگیا لو دزړ گی سریم
دمحـمو د غز نوی د جا نبا زا نـو
دنرا نـو او غا زیا نـو ر هگذ ریم


«غازی»

## (خیبر ته اعلان)

چه‌خازی شنی می‌په‌قبروی ولاړی
که‌غلام مړوم راځی‌توکئ‌پری لاړی
یا به‌دابی ننگه‌ملك باغ عدن کړم
یا به‌کړم دپښتنو کـوځی ویجاړی
چه‌قطری‌قطری‌می‌پوځ‌ددښمن‌نکړئ
موری ماپسی‌په کوم مخ به‌ته ژاړی
چه‌په‌خپلو وینو نه یم لمبیدلـی
په مامـه‌پلیتوئ دجمات غـاړی

((غنی))

PROPERTY OF ACKU
5652



سیلاب صافی



دسیلاب پەاهتمام

دولتی مطبعە